د موضوعي مقالو لړۍ

# د ګټو موضوع:
# د افغانستان په ولسي جرګه کې جنسیت او د حضور سیاست



انا وردزورت

١٣٨٢ چنګاښ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د موضوعې مقالو لړۍ

# د کتو موضوع:
# د افغانستان په ولسي جرګه کې جنسیت او د حضور سیاست

انا وردزورت

دغه څېړنه د برتانيې د نړيوالې پراختيا د ډيپارټمنټ (DFID) لخوا تمويل شوه

۱۳۸۶ چنګاښ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (©۲۰۰۷): ټول حقوق خوندي دي.

د دغه اثر د کومې برخې تکثیر، د بیا موندلو وړ سیستم کې زیرمه کول یا د هرې الکترونیکي وسیلې یا لارې څخه د هغه خپرول د خپرونکي (د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې) د لیکل شوې اجازې پرته غیر قانوني دي. د اجازې د ترلاسه کولو لپاره کولای شي په areu@areu.org.af پته یا هم د ۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+ ټلفون په شمېره اړیکه ونیسئ.

## د ليکوونکې په اړه

آنا وردزورث د دغه اداري د جنسيت څېړنيزه څانګه کې لوړ پوړۍ څېړونکې ده او د ۲۰۰۴ کال را پدېخوا په افغانستان کې کار کوي. نوموړې د سياسي اقتصاد د تاوتريخوالي، شخړو او پراختيا په برخه کې د لندن له پوهنتون د ختيځ او افريقا د مطالعاتو د پوهنځۍ څخه ماسټري اخيستې ده. آنا وردزورث په افغانستان کې په ملي او ټيټو کچو په سياست کې د ښځو د حضور په اړه څېړنه کړېده او پخوانۍ کار يې مشخصاً د بلخ پر ولايت متمرکز ؤ. نوموړې اوس مهال د دغه اداري لپاره د وزارتونو په کچه د جنسيتي تګلورې په اړه څېړنه کوي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) يو خپلواک څېړونکي سازمان دی چې عملي څېړنې يې تر سره کړې او آسانه کړې دي او د مشي او کړنلارې خبرتيا وركوونكې او ګټوره پوهه په نظر کې لري. د څېړنې او ارزونې ډله په فعاله توګه د څېړنې او زده کړې کلتور ته د څېړنيز ظرفيت د غښتلتيا او د څېړنې او نظر ورکولو لپاره د فرصتونو د رامنځ ته کولو له لارې پراختيا ورکوي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د لرليد تر ټولو ارزښتناک ټکی د افغانانو د ژوند ښه والی دی.

دغه اداره په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د ټولنيزې مرستې د میتود پربنسټ تاسيس شوه او د هغه مشرتابه پلاوی د مرستندويانو، ملګرو ملتونو، څو اړخيزو سازمانونو او د غير دولتي سازمانونو څخه استازيتوب کوي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري اوسني مالي لګښتونه د اروپايي کميسيون، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ، نړيوال بانک او د ناروې، ډنمارک، سويس، سويډن او برتانيې د هېوادونو لخوا ورکول کيږي.

# کورودانی

زه د ټولو هغو کسانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې د دغه څېړنې په مرکو کې يې ګډون کړي، په ځانګړي ډول د ولسي جرګې د غړو څخه چې په ډېره ميلمه پالنه يې خپل وخت د څېړنې ټيم ته ځانګړئ کړ منن‍ه کوم. زما هڅه دا ده چې د ملي شوراي د استازو ليدلوري په ډېره امانت داری سره ولیږدوم. دغه مقاله په ځينو ځايونو کې د قانون جوړونې پر اوسنی فضا نيوکه کوي مګر دغه نيوکې په هيڅ صورت د افرادو څخه د نېوکې په مانا نه دي. همدارنګه دغه مقاله د استازو د پام وړ برياوو باندې هم سترګې نه پټوي. اړينه بولم د هغو کسانو پر زړه ورتيا او ژمنتوب ټينګار وکړم چې د افغانستان په اوسنيو حالاتو کې يې د قانون جوړونې ارګان رامينځ ته کړ. د نړيوالو دفترونو د استازو څخه هم مننه کوم چې د ملي شوراي سره يې مرسته کړيده. د افغانستان د څيړنې او ارزونې د اداري غړو ټولو زه د دې څېړنې د ترسره کولو او د دغه اثر د ليکو په هکله زيات هڅولي يم او د دوي ملاتړ او لارښوونې ددرناوي وړ دي. په ځانګړې ډول ميرمن پروين ګيزابی او ښاغلي محمود ابراهيمي چې د ژباړې په برخه کې دوي د مرستې پرته د دغه څېړنې پاي ته رسول ناشوني وو. د دبرا اسميت، پالا کانتور، هيمش نيکسون، آدم پين او پال فيشتين له ملاتړ او نيکو نظرونو څخه چې د دغه مقالې د جوړښت او د بحثونو د بداينې لامل شول او له فی کاګاهاستين څخه د دغه اثر چاپ ته د چمتو کولو له امله زياته مننه کوم.

په پاي کې د ټولو هغو کسانو څخه چې دغه متن يې لوستې او ماته يې ګټور نظرونه راکړي دي، مننه کوم.

آنا وردزورث د ۱۳۸۲ کال د چنګاښ مياشت

# د مطالبو لړلیک


د څېړنې لنډیز ........ ۱

۱. سریزه ........ ۳
۱.۱ ټولیز اند ........ ۳
۲.۱ د پارلماني بحثونو دنده: د مثبتو کارونو ارزونه ........ ۴
۳.۱ د نظرونو د سیاست پر وړاندې، د ګډون سیاست ........ ۴

۲. د روښ پېژندنه ........ ۷

۳. شا لید: په افغانستان کې د ښځو سیاسي ونډه، **۱۹۲۴-۲۰۰۵** ........ ۸

۴. د ښځو ګډون: او سنی وضعه ........ ۱۰
۱.۴ په ملي شورا کې د ښځو د ګډون سیاست ........ ۱۰
۲.۴ د حضور سیاست: د ځانګړو شویو څوکیو په اړه د نارینه وو لیدلوري او د ښځو ګډون ........ ۱۱
۳.۴ د حضور سیاست: د څوکیو ځانګړې کول ناسمه اخیستنه؟ ........ ۱۲
۴.۴ د حضور سیاست: انګېزې او خنډونه ........ ۱۴

۵. پارلماني تړاو: د ټولیزو کتو بیان ........ ۱۷
۱.۵ د مشرتابه مسئلې: شخصي سیاست ، ملاتړ ، شهرت ........ ۱۷
۲.۵ "بهرنی "اغېزه: ګوندونه او د سیاسي خپلواکۍ محدودیت ........ ۱۹
۳.۵ د "نظرونو د سیاست "پر وړاندې خنډونه: یوه د نه لیږد وړ رایه، قومیت او ملي یووالي ........ ۲۲

۶. د استازیتوب رول: "انتخاباتي سیمه " او ضمني دلالتونه ........ ۲۴
۱.۶ د استازیتوب مسئلې: جغرافیایي لاملونه ........ ۲۴
۲.۶ د استازیتوب مسئلې: ملاتړیزې شبکې ........ ۲۶

۷. نه پاملرنه او اجرائي مداخله ........ ۲۸
۱.۷ اجرائي محدودیتونه: د ښځو په فضا کې د ښځو لپاره فضا ........ ۲۸
۲.۷ اجرائي مداخله: له فساد څخه اخیستنې (برداشت) ........ ۳۰

۸. نړیوالې مرستې ........ ۳۲
۱.۸ اړتیاوې او میکانیزمونه: نړیوال لیدلوري ........ ۳۲
۲.۸ اړتیاوې او میکانیزمونه: د ملي شورا د استازو لیدلوري ........ ۳۵

۹. پایلې او د پرمختیا لارې ........ ۳۸

اخځونه ........ ۴۰

دافغانستان د څېړنې او ارزونې وروستۍ خپرونې ........ ۴۲

# لنډيزونه

| | |
|---|---|
| CEDAW | د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له مينځه وړلو کنوانسيون |
| FES | د فردريش ابرت ټولنه |
| GoA | د افغانستان دولت |
| IPU | د بين المجالس ټولنه |
| MJ | مشرانو جرګه |
| MOWA | د ښځو د چارو وزارت |
| NAPWA | د افغانستان د ښځو لپاره د کار ملي طرحه |
| NDI | ملي ډيموکراټيکه موسسه |
| POPA | د افغانستان د خلق ډيموکراټ ګوند |
| PGI(s) | د جنسيت عملي ګټې |
| SGI(s) | د جنسيت ستراتيژيکې ګټې |
| SNTV | يوه د نه ليږد وړ رايه |
| SUNY | د نيويارک ايالتي پوهنتون |
| UNDP | د ملګرو ملتونو د پراختيا اداره |
| SEAL | د افغاني مقننه څواک د جوړېدو څخه ملاتړ |
| UNIFEM | د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پرمختيايي صندوق |
| USAID | د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيا موسسه |
| WJ | ولسي جرګه |

## د څېړنې لنډيز

دغه پاڼه په دې اند ده چې په ولسي جرګه کې د ښځو د پراخه شتون سره د ښځو د جنسيتي ګټو څخه استازيتوب په خپله تر ټولو ټيټه کچه کې پاتې دی. دغه امر پدې مانا نه دی چې د ښځو سياسي اغېزه د وروستيو ۱۸ میاشتو په اوږدو کې نه ده زياته شوې، بلکه په ټوليزه ډول ښځو د دغه نوي لاسته راوړې ځواک څخه د جنسيتي ګټو د ښه والي په موخه ګټه نه ده اخيستې. د دې څېړنې موخه د دغه ګټو څېړل او په راتلونکي کې د دغو ګټو د بنسټيز ښه والي لپاره د کړنلارو وړاندې کول دي.

د نظري (تيوريکي) چوکاټ د درپيژندلو او په افغانستان کې د ښځو سياسي ونډې ته د تاريخي کتنې څخه وروسته دغه مقاله په شپږو برخو کې خپل بحثونه وړاندې کوي.

### اوس مهال د ښځو سياسي ګډون

ښځې د ۱۸مياشتو راهيسې په ملي شورا کې ګډون لري او د مقننه ځواک سره د مرستې لپاره د هغوی شتون ته په ټوليزه توګه په پراخه کچه هر کلي وشو. هر څو که د دوی شتون د له مخکې ځانګړو شويو څوکيو څخه د ناوړه انګېرنې په وسيله کمزوری شوی دی.

پر دغه برسېره د ښځو تر مينځ د واټن زياتوالي هم د منلو وړ دی او د دغه انګېرنې په خلاف دی چې ښايي ښځې د يوه واحد وجود په توګه راښکاره شي. د ښځو د جنسيتي ګټو استازيتوب له خنډونو سره مخ دی او د دغه استازيتوب په وړاندې خنډونه په څلورو برخو کې پيژندل شوي دي:

### پارلماني تړاوونه: د ټوليزو ګټو بيان

د ښځو جنسيتي ګټې ټوليزې ګټې دي، او په دې دليل د افرادو په پرتله پر مسئلې ولاړې ډلې هغوی ډېر برياليې استازيتوب کولای شي. مګر پر مسئلې ولاړو ډلو او نه هم ټوليز سياسي سمونونو د افغانستان په سياسي تاريخ کې کوم ځواکمن پيوالي نه دی درلودلی، ګوندونه شته دي بلکه د بنسټيز شوو ګوندونو څخه يې ډېر واټن درلودلی او ډېرې افغانان د هغوی په اړه منفي ليد لري او اکثراً د جنګ جګړو کړاوونه د هغوی له امله ګڼي. لدې کبله د پارلماني ډلو او پر مسئلو ولاړو ډلو جوړول د ډېرو ستونزو زيږند دي او د ښځو د جنسيتي ګټو څخه د استازيتوب د فضا د نه رامنځ ته کيدو لامل شوي دي. د قوميت لاملونه او همدارنګه "بهرنۍ" اغېزه هم په پراخه کچه د دغو ګټو څخه د نه استازيتوب لامل شوې ده.

### د استازيتوب رول: انتخاباتي حوزه او ضمني دلالتونه

د پارلمان د غړو او د هغوی د انتخاباتي حوزو تر مينځ اړيکې او د انتخاباتي حوزې د ګټو (او د ښځو د جنسيتي ګټو) د ساتلو لپاره ظرفيت په ټوليز ډول کمزوری دی او د ګڼو لاملونو له کبله دی (کولای شو دغه لاملونه په دوو لويو برخو وويشو). لومړۍ برخه جغرافيايي لاملونه دي لکه هغه ځای چې د پارلمان د غړي ټاکنيزه سيمه ده او دا چې آيا هغوی کولای شي په منظمه توګه د نظر وړ سيمې څخه ليدنه وکړي، او دا چې امنيتي وضعه د استازي لخوا پر وړاندې شوي موضوع څومره اغېزه لري، اړونده ده. دوهمه برخه د استازې د ملاتړ شبکې دي، دا چې د استازي ټاکنيزه سيمه څرنګه خلک دي او د استازي او د ټاکنيزې سيمې تر مينځ څه اړيکه شته، اړونده ده. له يوبل سره تړلې مسئلې لکه ملاتړ، د خدمتونو چمتو کول او مېلمه پالنه د دغه بحث مهم ټکي شمېرل کېږي.

### نه پاملرنه او اجرايي مداخله:

حتي په داسې حالاتو کې چې د ښځو جنسيتي ګټې په شورا کې مطرح هم شي مګر بيا هم ډېر کم وخت پېښيږي چې په دغه اړه قانون جوړ کړل شي. د دغه امر يو لامل د پلي کوونکو چارواکو لخوا جنسيتي ګټو ته نه پاملرنه ده. د ښځو استازيتوب د پلي کولو په کچه ډېر کم دی او يوازې د هغو ښلګه د ښځو د چارو وزيره ده. د ښځو د جنسيتي ګټو په اړه دغه محدوديت په نورو برخو کې هم د پام وړ دی. دوهم ټکی په اجرائيه او مقننه ځواکونو کې او په حقيقت کې د دوی تر مينځ د فساد شتون دی. د دغو درکونو (برداشتونو) سپيناوی او نه سپيناوی جوت نه دی، مګر که داسې فرض شي چې د دولت پر پرېکړو د اغيزې يوائينۍ لاره رشوت اخيستنه ده، ښو پايلو ته رسېدل د اړينې

پانګې د شتون څخه پرته ناشوني دي او (د بېلګې په توګه د جنسيتي مسائلو په کړنلاره کې د ښه والي) په اړه د اغېزې لپاره بې ارزښته دي.

## نړيوالې مرستې

نړيوالې ټولنې په پارلمان کې د ښځو د جنسيتي ګټو د طرح کولو د ظرفيت د لوړوالي په موخه د ظرفيت د لوړولو، ورکشاپونو د جوړولو او نورو اړوندو کارونو د ترسره کولو له لارې زياتې هڅې کړې دي. هر څو که د ښځو استازيو اړتياوې يو ببړنۍ امر انګېرل کيږي او د قانون جوړولو په برخه کې د ملاتړ د ارزښت د درک کولو پرته د دوي سره مرسته کيږي. پدې دليل د دواړو لورو (استازي او نړيوال مرستندويان) د بېځايه تمو د رامينځ ته کېدو لامل ګرځي.

## پايلې او پر وړاندې لارې

لاندې وړانديزونه په پارلمان کې د ښځو د جنسيتي ګټو د طرحه کولو د لا ګټورتيا په موخه وړاندې کيږي:

۱. *ځانګړې شوې څوکۍ:* که داسې فرض شي چې په راتلونکو ټاکنو کې د ښځو لپاره څوکۍ ځانګړې کيږي، نو سپارښتنه کيږي چې دولت او د ټاکنو چارواکي د دغو څوکيو د کړنلارې په اړوند خلکو ته مخکې له مخکې معلومات ورکړي. په هغه برسېره د وړاندې ځانګړې شويو څوکيو سيستم بايد د تېرو نابرابريو دلنډ مهالي ارزونې په بنسټ وي نه داسې يو سيستم چې د هغه له لارې ښځو ته ناعادلانه مکافات ورکول کيږي.

۲. *پر مسئلې ولاړې ډلې:* که چېرې د جنسيتي چارو کړنلاره په پراخه کچه ومنل شي پدې صورت کې بايد ډله ايز استازيتوب وهڅول شي. د ښځو د جنسيتي ګټو استازيتوب پر مسئلو ولاړو ډلو يا د هغو ګوندونو چې ددغو ګټو څخه د استازيتوب ژمنه يې د سياست يوه بنسټيزه برخه وي، چوکاټ ته اړتيا لري. د افغانستان په سياسي تاريخ کې تر اوسه د پر مسئلو ولاړو ډلو برياليتوب نشتوالي ته په پام دغه مسئله د جدي پاملرنې وړ ده.

۳. *ځواب ورکونه "ټيټ لوري ته":* ځواب ورکونه "ټيټ لوري ته" د پروګرامونو لاسته راوړونکو ته د نړيوالو سازمانونو زياتېدونکې ژمنې ته اړتيا لري. د زده کړې او د مرستې د نورو شکلونو د ځرګندونو اړوند اسناد بايد د شورا د استازو د مطالعې په موخه په منظم ډول چمتو کړل شي. په هغه برسېره وړانديز کيږي چې د استازو په وسيله د اشاعې (حق پيژندنې) په اړوند د پارلمان سره د مرستې په برخه کې د روڼوالې (شفافيت) د اړتيا په اړوند د خبرتيا د لوړوالي په موخه کار وکړل شي.

۴. *د جنسيت اړوندو مسايلو پر زده کړې تمرکز:* د زده کړې محدوديتونه په پراخه توګه د پاملرنې وړ دي او د زده کړې پروګرامونه کولاي شي ګټور مهارتونه (د بېلګې په توګه د قانون جوړولو پرمختګ) په برخه کې په کار واچوي. لدې کبله جنسيت بايد په مناسبه توګه په ټولو روزنيزو پروګرامونو کې په نظر کې ونيول شي تر څو د جنسيت په اړه حساسه مسئله خپره شي او ددې پيغام ځرګندوي وي چې د پارلمان ټولې چارې بايد د جنسيتي اندول له ليدلوري څخه تر سره شي.

۵. *د ښځو د حقونو په اړه د قانون جوړولو همغږي:* دې ته په پام چې د ښځو د حقونو د لوړتيا په موخه د قانون جوړونې د ډول ډول شکلونو او د ژمنو د الزاماتو په هکله کم درک شته، وړانديز کيږي د مخکې يادشوو مواردو ټولګه چمتو او د پارلمان په واک کې ورکړل شي. د افغانستان د ښځو لپاره د کارملي طرحه (NAPWA) چې په ډېر نژدې وختونو کې پيل کيږي کولاي شي د ښځو د جنسيتي ګټو د انسجام او ارتقا لپاره د يوې وسيلې په توګه کار وکړي.

۶. *ښځې په اجرائيه ځواک/ستره محکمه کې:* د ښځو په اړوند د حامد کرزي ژمنې د اړتيا وړ جوهر ندرلود، مګر پر دغه ټکي پوهېدل اړين دي چې حامد کرزي په پارلمان کې ښځو استازو ته درناوي کوي او ژمنه يې کړېده چې په اجرائيه ځواک او ستره محکمه کې لازياتي ښځې وګماري. د دغه ټکي تضمين هم اړين دي چې د ښځو ګډون د "ښځو په ټاکلي فضا "لکه د ښځو د چارو وزارت پورې تړلی (محدود) نه وي، ځکه چې داسې ګوابن شته چې د ښځو ګډون يواځې د جنسيتي اندېښنو د ليرې کولو لپاره کارکوي او په نورو اجرائي برخو کې د کار وړتيا ونلري.

# ۱. سريزه

## ۱.۱ ټوليز نظر

د افغانستان ملي شورا د ښځو د پام وړ ګډون له کبله نامتو ده. د ولسي جرګې ۲۷ په سلو کې څوکۍ او له هرو شپږو څخه يوه يې په مشرانو جرګه کې د ښځو لپاره ځانګړې شوې دي. چې پدې شمېر سره په پارلمان کې د ښځو د حضور له کبله افغانستان د ۲۰ ښو هېوادونو په ډله کې راځي[1]. په پارلمان کې د ښځو دغه لوړې شمېرې ته په پام افغانستان د بل هر اسلامي هېواد او ډېرو لويديځو هېوادونو[2] څخه مخکې دي، د افغانستان او د سيمې منځنۍ شمېره ۱۲,۴ فيصده[3] ته رسيږي. که څه هم د ښځو لپاره د سياسي فضا جوړول په افغانستان کې د انډول فرصتونو د برابرولو يوه د پام وړ او روښانه مرحله ده، د پارلمان د ۱۸ مياشتني کار راوروسته دا پوښتنه لا تراوسه شته چې دغه فضا څرنګه کارول شوېده؟

د ښځو نوې را ښکاره شوې سياسي ونډه پارلمان ته د هغوي د راتګ سره په پراخه کچه لوړه شوه[4]. سره لدې په ملي شورا کې د رامنځ ته شويو پرمختياوو په اړه کمه څېړنه شوې ده[5]. د پارلمان د دوو لمړيو غونډو په اوږدو کې ښځې په ناڅاپه توګه د څو ډله ايز يووالي په توګه راټولې نه شوې، خو بر عکس پر قومي، سيمه ايزو، سياسي او ژبنيو اړيکو ډېر زيات ټينګار کيده. د ښځو د سياسي ونډې او د هغوي د وړتياوو تر مينځ د اختلاف ټکي (يا استازيتوب ته د هغوي ليوالتيا يا جنسيتي اړيکو ته لومړيتوب ورکول) ډېر څرګند وو. (لومړي چوکاټ ته دې مراجعه وشي)

د دغه څېړنې لومړۍ موخه د هغو لاروچارو پيدا کول دي چې په پارلمان کې کم تر کمه په ۱۸ تېرو مياشتو کې د ښځو جنسيتي اړيکي (جنسي انډول) ونښيي. پر هغه سربېره د ښځو استازو لپاره دمخکې ټاکل شويو څوکيو اغېزه وآزمايي. څرګنده ده چې دښځو لخوا په ځينو ځايونو کې د مثبتو کارونو له لارې د قانون جوړونې د غونډو مخ ته بېول په ادارو کې د هغوي پر مشروعيت اغېزه کړېده. همدارنګه په پارلمان کې ليدل شوي چې د ښځو جنسيتي ګټې په ګوښې ډول نه دي وړاندې شوې. دغه امر ښايي د پارلمان د جوړېدو راهيسې د کم وخت له کبله وي. که څه هم ټاکلي خنډونه او ستونزې شته چې نر او ښځې د داسې مصلحتونو د پارولو څخه ليرې ساتي.

دغه رپوټ داسې مسئلې او وړانديزونه وړاندې کوي چې څه ډول پر دغو ستونزو بريالي شو؟ څلور اصلي موضوع ګانې وړاندې کيږي: سياسي اړيکې، د انتخاباتي (ټاکنيزې) سيمې لاملونه، د پلي کولو نه ليوالتيا او مداخله. په پاي کې دغه رپوټ د نړيوال استازيتوب، دولت او خپله د پارلمان غړو ته د لارښووني لارې چارې چمتو کوي. دغه رپوټ د دې لپاره وړاندې کيږي چې څرنګه په پارلمان کې د ښځو جنسيتي اړيکې په ګټوره توګه وپارول شي تر څو تېرې ناهمغږۍ ننباني کړي او ښځو ته ددې وړتيا ورکړي تر څو د ظهور مرحلې ته ورسيږي.

---

۱. رينولدز، جانز او ويلدر، ۲۰۰۵، په افغانستان کې د ملي شورا د ټاکنو لارښود، ۱۰ پاڼه، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.

۲. د بين المجالس ټولنه، ښځې په ملي شورا کې ، ۲۰۰۷. www.ipu.org/wmn-e/world.htm

۳. رشيد ، ۲۰۰۲. "افغانستان د کړنګ په څوکه". په نيويارک کې د کتابونو د بيا کتنې مرکز".

۴. ملي دموکراتيکه موسسه. "د ۲۰۰۵ کال د سپټمبر په مياشت کې د افغانستان د پارلمان او وليتي شوراګانو ټولټاکنې".

۵. د بحرانونو د اداری نړيواله ډله: د مقننه ځواک په اړه څېړنه چې د ۲۰۰۲ د مي په مياشت کې تر سره شوه ، مګر دغه څېړنه په مشخصه توګه په پارلمان کې د جنسيتي نظره د اړيکو پر ځواک متمرکزه نه وه. ( "د افغانستان نوي مقننه ځواک: د ډيموکراسۍ پلي کېدل "(د آسيا راپور. ۱۱۲ ګڼه). پدې اړه يو شمېر مقالې هم خپرې شوې دي مګر غالباً پر کمو افرادو متمرکزې وې او په پراخه کچه يې کومه څېړنه نه ده کړې.

۶. د بين المجالس ټولنه (IPU)، ۲۰۰۷، په ۲۰۰۲ کال کې ښځې په پارلمان کې: د پام وړ کال. جنوا:

## ۲.۱ د پارلماني بحثونو ونډه: د مثبتو کارونو ارزونه

په پارلمان کې ښځو ته د څوکیو وړاندې ځانګړې کول په ټوله نړۍ کې په زیاتېدونکې ډول رواج شوی دی. د نړیوالې پارلماني ټولنې د شمېرو پر بنسټ په ۲۰۰۷ کال کې په ۲۳ هېوادونو کې د ښځو لپاره د څوکیو د ځانګړې کولو میکانیزم کارول شوی دی.[۷] په افغانستان کې رسمي کارول شوی سیستم د څوکیو د ځانګړې کولو سیستم دی. دغه سیستم د نافذ قانون په بنسټ چې په هغه کې د ښځو لپاره یو ټاکلی شمېر څوکې ځانګړې شوې وي تو پیر لري، نه ټولو هغو ډلو لپاره چې غواړي په پارلمان کې استازیتوب ولري د ښځینه او نارینه کاندیدانو یو ټاکلی نسبت وټاکي.[۷] د دغو اعمالو ګټې او د کمزورۍ ټکي په پراخه کچه تر بحث لاندې نیول شوي دي. مثبت عمل کولای شي د انصاف د ځینو ستونزو د حل لپاره چې ټاکلو ټولنیزو ډلو ته د ترجیحې تګلارې له کبله راپیښې شوې او د تېرو بې عدالتیو له امله د رامنځ ته شویو محرومیتونو د له منځ وړلو لپاره کار وکړي.[۸] په ورته ډول دغه مثبت عمل کولای شي د هغو ستونزو او خنډونو د له مینځه وړلو په لارکې کار وکړي چې ښځې یې په سیاسي ارګانونو کې د ګډون څخه لېرې ساتلې[۹] او همدارنګه په سیاسي او جنسیتي برخو کې د ښځو د چټک ګډون په اړوند د ناهمغږیو د له مینځه تلو لامل شي. پاتې بحثونه د ونډې ورکولو د سیستم یا د وړاندې ځانګړو شویو څوکیو د سیستم په ګټو راڅرخي او په سیاست کې د ښځو د ګډون د حق د ښودلو اړتیا بیانوي. که څه هم بحث کول په ټوله مانا ګټور نه دي لکه څرنګه چې دغه

حقیقت یې نالیدلي پرېښی چې په ټولنه کې ځانګړو ډلو ته ارزښت ورکول د انډول (مساوات) کړنلاره نه ده.[۱۰] په هغه صورت کې چې په پارلمان کې د ښځو ۳۰ په سلو کې په دې اند دي چې د شمېر له نظره نفوذ کولای شي داډ راکړي چې دغو لاملونو ته اجازه نه ورکول کیږي چې سیاست ته د ښځو د لاسرسي او په پرېکړه نیونه کې د نفوذ لپاره د دوی د ظرفیت تر مینځ دیوال شي. د جنسیتي ګټو پرمختګ لپاره د ښځو د ګډون او وړتیا یا لیوالتیا تر مینځ اړیکه په خپل حال پرېږدي.[۱۱]

## ۳.۱ د ګډون سیاست د نظرونو د سیاست پر وړاندې؟

پر مثبت عمل د بحث تمرکز، دا یو نوی بدلون دی، په ټولیز ډول د سیاسي استازیتوب له نظره ]د نظر له سیاست [څخه د [ حضور (ګډون) سیاست[ ته بدلون مومي.[۱۲] د ښځو (او نورو ډله ایزو لږکیو) د مساوي سیاسي ګډون لپاره غوښتنه دې پایلې ته رسېدلې ده چې د استازیتوب د سیاست په ځای د آیډیاګانو له سیاست څخه ګټه واخیستل شي.[۱۳] د افغانستان په نوي جوړ شوي مقننه ځواک کې پر دې ډېر ټینګار شوی چې د چا (د بېلګې په توګه: د ټاکلو ټولنیزو ډلو) استازیتوب کېږي. په پایله کې په سیاسي کړنلارو تمرکز نشته او په ډېر کم شمېر پر مسئلو ولاړو ډلو چې د ټولنیزو ګروپونو څخه جلا وي تمرکز کېږي.

۷. نوریس، ۲۰۰۲، د دروازې خلاصول: په عراق او افغانستان کې ښځې مشرانې او د اساسي قوانینو تصویب، ۵ مخ، کامبریج: د هاروارد پوهنتون، د جان اف کینډي دولتي پوهنځی.

۸. سمیت، ۲۰۰۵. د قدرت موندل: د رجسان په کلیوالي سیمو کې جنسیت او د ښځو سیاسي ګډون، هند. (د دکترا رساله)، ۳۹ مخ. لندن: د لندن د اقتصاد او سیاسي علومو پوهنځی.

۹. داهلرپ، ۲۰۰۲، "له ونډو څخه د ښځو د سیاسي ګډون د زیاتوالي په اړه ګټه اخیستنه" نړیواله IDEA.

۱۰. ټینکر، ۲۰۰۴، "د ټاکل شویو قانون جوړوونکو په مینځ کې د ښځو ونډه: آیا دغه ونډې په رښتیني توګه کولای شي ښځې پیاوړې کړي؟ د ښځو د مطالعاتو د نړیوالې نظر ورکونې په غونډه کې.

۱۱ ۲۷ همدغه څېرونه کې راغلي چې په سلو کې د ولسي جرګې څوکۍ ښځو ته ځانګړې شوې چې د پرېکړې کونې په پستونو کې د ښځو د ګډون په اړه د پیکن په عملیاتي بنسټ کې ټاکل شوې سلنې ته یوه نږدې شمېره ده. دغه بنسټ د ملګرو ملتونو لخوا په ۱۹۹۵ کال کې وټاکل شو. b, op. cit۲۰۰۷IPU,

۱۲. فیلیپزا، ۱۹۹۵، د حضور سیاست: د جنسیت، *توکم او قومیت سیاسي چوپړ*. اکسفورد، د کلارندن مطبعه.

۱۳. همدغه څېرونه کې

د ګډون د سیاست د بحث پر بنسټ ډېرئ وخت داسې فرض کیږي چې د لږکیو ټول غړي ورته ګټې سره شریکې کړي[14]. دغه بحث په ټاکلې توګه په ولسي جرګه کې د ښځو په اړه صدق کوي چې یوې زیان لېدلې ډلې د یووالي لپاره د غربي رسنیو د زیاتو خیالي انګېرنو په ضد دي[15]. ښځې په پارلمان کې د یوې همغږې ډلې په توګه د یووالي څخه لېرې دي او د هغه پر ځای په قومي، ډله ایزو، ژبنیو، سیاسي او سیمه ایزو ډلو ویشل شوې دي. د ځو ګوني هویت عقیده دلته ډېره ارزښتناکه ده داسې چې د خلکو ګټې د دوی د هویت له لیدلوري چې په یوه ټاکلي وخت کې ورته لومړیتوب ورکول کیږي، ټاکل کیږي.

## لومړۍ چوکاټ: جنسیتي ګټې

جنسیتي ګټې د هغو ګټو ټولګه ده چې د اړیکو د رامینځ ته کولو او ټولنې ته د جنسیت د مسئلې د ښکاره کولو له امله پراختیا مومي. نر او ښځې دواړه جنسیتي ګټې لري - هغه ګټې چې د نسبتي حالتونو یا جنسیتي وېش له کبله مینځ ته راځي. د یادولو وړ ده چې د ښځو او نارینه وو جنسیتي ګټې د دوی د نورو ګټو څخه توپیر لري لکه څرنګه چې وروستنۍ مورد د هغوی په جنسیتي هویت پورې اړه نلري. په داسې حال کې چې په دغه څېړنه کې د ښځو او نارینه وو دواړو جنسیتي ګټې تر بحث لاندې نیول کیږي، په پارلمان کې د ښځو د جنسیتي ګټو پربیان ډېر ټینګار کیږي. هماغه ډول چې په پارلمان کې د ښځو د پام وړ ګډون (ا وهلته د دوی د جنسیتي ګټو د را څرګندولو لپاره د پټ استعداد ) یوه نوې پدیده ده او جدي پاملرنې او څېړنې ته اړتیا لري.

د جنسیتي ګټو رواجول کولای شي د وراثت په قوانینو کې د بدلون د راتګ لامل شي تر څو نر او ښځې په مساوي توګه د هغه څخه برخمن شي. یا د بېلګې په توګه د هغو کسانو لپاره د مرکزونو جوړول چې مور او پلار (کورنۍ) یې پرېښې وي. دغه اصطلاح کولای شو په ټاکلو ګروپونو وویشو: عملي جنسیتي ګټې (PGI) او ستراتېژیکې جنسیتي ګټې (SGI). عملي جنسیتي ګټې په سملاسي عملي اندېښنو پورې تړلې دي او د جنسیتي توابعو د منل شویو نورمونو او معیارونو سره کوم توپیر نه لري. ستراتېژیکې جنسیتي ګټې ډېر د اجنډا پر بدلون راڅرخي چې دغه معیارونه او نورمونو د ننګونې سره مخ کوي. لدې کبله د عملي جنسیتي ګټو لومړیتوب د ښځو لپاره د کلینیک د جوړولو کمپاین دي او ستراتېژیکې جنسیتي ګټې پر نفوذ کولو راڅرخي او د هغوی موخه د کورني تاوتریخوالي پر ضد د قانون جوړول او پلي کول دي. د یادولو وړ ده چې په هر حال دغه دوه ګروپونه په پوره توګه د یو بل سره اړوند دي. د عملي جنسیتي ګټو یادول مونږ ته په ټولیزه توګه د ښځو پرمختللي ستراتېژیک رول راښیي. همدا ډول په ستراتېژیکو قوانینو کې بدلون د ښځو پر جنسیتي ګټو نېغه اغېزه لري.

سرچینې:

کبیر. ن- ۱۹۹۴- سرچپه واقعیتونه: په پرمختللي تفکر کې د جنسیتي مراتبو سلسله، له ۹۰-۹۱ مخونه، لندن او نیویارک: ورسو

مولینکس. م. ۱۹۸۵- د خپلواکۍ په نشتون کې سنبالتیا؟ د ښځو ګټې، په نیکاراګوا کې دولت او انقلاب. فمنیستي مطالعات، ۲۵۴-۲۲۷: (۲) ۱۱

موسر. س. ۱۹۸۹- په دریمه نړۍ کې جنسیتي پلان کول. د عملي او ستراتېژیکو ګټو توپیر، د نړۍ پرمختیا، ۱۸۲۵-۱۷۹۹: (۱۱) ۱۷

۱۴. فیلیپزدغه فرضیه په Idib کې تر نېوکې لاندې نیولې، ۲۴.

۱۵. ورته مورد، د ناتاشا او الترز په مقاله کې وړاندې شوې وړاندوینه ده چې د ۲۰۰۲ کال د نومبر په میاشت کې د ګاردین په خپرونه کې خپره شوه.



## ۲. روښ پيژندنه

- د ولسي جرګې د ۴۲ غړو سره د مرکو ببلګه د څېړنې د لمړنيو اطلاعاتو په توګه چمتو شوه. دغه مرکې د ۲۷ ښځو او ۱۵ نارينه وو سره شوېدي (لومړی شکل هغه استازي چې د جنسيت او ولايت په اړه ورسره مرکه شوېده). هغه ليدلوري چې په رپوټ کې راغلي دي پدې موخه ندي چې د ليوالتياوو وړانديز وکړي، بلکه د ځواب ورکوونکو تحليلي ځرګندونې په هغه کې په ډېر ځير سره مستندې شوې دي.
- د پارلمان غړي د جنسيت، قوم، انتخاباتي سيمو (حوزو)، سياسي اړيکو او يا دغه چې دوي انګرېزي غږيداي شي او که نه، له نظره ټاکل شوي دي. (موخه هغو کسانوسره يو ځاي کول وو چې ځينې يې انګريزي وغږېداي شي او ځينې نور ونشي غږېداي). دغه ټکي هم په مرکو کې په نظر کې نيول شوي ؤ چې د اندونو يوه پراخه لړۍ راټوله شي.
- ټولې مرکې په انفرادي شکل تر سره شوېدي او د دوي (مرکه کوونکو) په موافقه د څېړنې موخه په دری ژبه هغوي ته ځرګنده شوې ده او د دوي د نوم له ځرګندتيا څخه ضمانت شوي دي. له هر ځواب ورکوونکي څخه غوښتل شوي چې په کوم نامه غواړي دوي ياد شي لکه په پارلمان کې د هغوي د ولايت د استازی په توګه او يا هم په ځرګند ډول په افغانستان کې د دوي سيمې ته اشاره وشي.
- تصديق کيږي چې د برتانيوي څيړونکو شتون ښايي په ورکړل شويو ځوابونو اغيزه کړې وي. دغه څېړنې ته د ځواب ورکووونکو د شک په سترګه کتلو او ياهم په ټوليزه توګه په افغانستان کې پر نړيوالو فعاليتونو د شک له کبله ښايي ورکړل شوي ځوابونه محدود شوي وي.
- په تکرار سره ليدل شوي دي چې ځواب ورکوونکي د يوه بهرني سره په خبرو کې ډېر د آرامۍ احساس کوي. په هغه برسېره د مرکې په حال کې ځواب ورکوونکو ته سپارښتنه شوېده چې خپلې ځرګندونې په ځرګنده توګه بيان کړي او داسې فرض کړي چې څيړونکی د افغانستان د سياسي او ټولنيزو شرايطو سره هيڅ بلدتيا نلري.
- که څه هم د دواړو ژباړونکو مورنۍ ژبه دري وه، مګر ټولو مرکه کوونکو ته د پښتو، دري او انګريزي د هرې ژبې د ټاکلو آسانتيا وه. څيړونکی تر هغه ځايه چې شونی وو د مرکې په مهال په دري ژبه غږيده.
- د ژباړې کيفيت (ځرنګوالي) ډېر لوړ ؤ. ويل شوي دي چې په ژبنۍ ژباړه کې د اصلي مانا يوه برخه نه ده ليږدول شوې، مګر د مرکو د ټولو الکترونيکي نسخو په څېړلو سره چې د ژباړونکو سره موجودې وې، دغه مسئله هم کنټرول شوه.
- همدارنګه دهغو نړيوالو شرکتونو د استازو سره هم مرکې وشوې چې د پارلمان سره د مرستې په کار بوخت دي. ځواب ورکوونکي د دغه سازمانونو کورني او نړيوالو استازي وو.
- د څېړنې د دورې په اوږدو کې ځرګنده شوه چې د مشرانو جرګې د دارالانشا، د مدني ټولنې او دولتي وزارتونو د غړو سره مرکې هم ګټورې دي. دغه مرکې کېداي شي د راتلونکو څېړنو لپاره يو بنسټ وي.

## ۳. شالید: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون ۲۰۰۷-۱۹۶۴[۱۶]

د رایجو فرضیو پر خلاف په تشکیلاتو او موسسو کې د ښځو شتون کومه نوې خبره نه ده چې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې لخوا منځ ته راغلې وي. د افغانستان دریم اساسي قانون چې په ۱۹۶۴ کال کې د ظاهر شاه د پادشاهۍ په دوره کې چمتو شو، په هغه کې ښځو ته د رایې ورکولو حق ورکړل شو او ښځو د لومړي ځل لپاره وکولای شول چې د یوه ټاکل شوي کاندیدا په توګه پارلمان ته وټاکل شي. مګر په هېواد کې په ټولیزه توګه د دغو سمونونو هرکلي و نشو او د مذهبي بنسټ پالو لخوا يې جدي مخالفت وشو.[۱] د دغو سمونونو په پایله کې د راوروسته کلونو په ټاکنو کې درې ښځې د پارلمان د غړو په توګه او دوې ښځې په مشرانو جرګه کې د استازو په توګه وټاکل شوې. د هغه وخت د تشکیلاتو په کابینه کې کبرا نورزۍ د عامې روغتیا د وزیرې په توګه وټاکل شوه او په ۱۹۲۷ کې بیا تعیینه شوه. شفیقه ضیایي په ۱۹۶۹ کال کې د رسمیت څخه پرته وزیره شوه او په ۱۹۷۱ کال کې په دغه څوکۍ بیا وګمارل شوه. ۱۹۶۵ کال هم د افغانستان د خلق ډیموکراټ ګوند (چې د هغوي د پرمختیا غوښتونکې اجنډا کې د ښځو دحقونو مسئلې لیدل کېدې) او د افغان ښځو د ډیموکراټیک سازمان د جوړېدو شاهد ؤ. د هغه مهال په سیاسي سازمانونو کې د ښځو ګډون تر ۱۹۹۰مې لسیزې پورې دوام درلود، که څه هم د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند ته دښځو ګډون د فعالانو په توګه ډېر سخت تر نیوکې لاندې راغئ. په داسې حال کې چې د ښځو راتلونکې سیاسي اړیکې ځپاندې شوې، کم تر کمه ویلای شو چې د تېرو ۴۵ کلونو په اوږدو کې په سیاست کې د هغوي ګډون په ملي کچه پېژندل شوي دي.

د دغو تفسیرونو سره او د مجاهدینو او طالبانو په دورو کې ښځو هر اړخیز ځپل کېدو ته په پام، اړینه ده چې په پارلمان کې د جنسیتي انډول په برخه کې د ښځو ګډون ته پاملرنه وشي. په دغو دورو کې د سیاسي فضا څخه د ښځو د ایستلو اغیزې ځرګندې دي. په هر حال ډېرې هڅې شوې دي چې تحمیل شوې نابرابرۍ اصلاح او جبران شي. د بن د پرېکړه لیک (د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په میاشت کې) او د هغه وروسته کنفرانسونو لکه پیکن ۱۰+،[۱۸] څخه وروسته د نړیوالې ټولنې په هڅونې سره د ښځو په اړه ژمنې د افغانستان دولت ته وسپارل شوې چې په هغه کې د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض له مینځه وړل (CEDAW)، په ۲۰۰۲ کال کې د ښځو د چارو د وزارت (MOWA) جوړول او د ۲۰۰۴ کال د ولسي جرګې په ټاکنو کې د ښځو استازو لپاره د وړاندې ځانګړو شویو څوکیو لپاره قانوني سریزه جوړول پکې شامل وو.[۱۹] د دغو ټاکنو پایلې په راوروسته کلونو کې یوډول حیرانوونکې وې (کابو ۳۰ په سلو کې دغه څوکۍ ښځو د خپل طبیعي حق په توګه وګټلې نه د وړاندې ځانګړو شویو څوکیو په توګه[۲۰]). په ټولیز ډول ۶۸ ښځې په پارلمان کې د استازو په توګه پېژندل شوې دي، چې د ولسي جرګې د ۲۴۸ کسیزه غړو ۲۷ په سلو کې پوره کوي چې انډول دي د ښځو لپاره د هماغه وړاندې ځانګړو شویو څوکیو له شمېرې سره.

---

۱۶. معلومات له کاندیوتي څخه اخیستل شوي. په افغانستان کې د جنسیت سیاست او بیا رغونه. www.unrisd.org, www.pbs.org

۱۷. د هغو کسانو څخه په مننې چې د دغه ټکي د بیا کتنې په اړه یې مرسته کړېده.

۱۸. دښځو د چارو د وزیرې مېرمن مسعوده جلال په مشرۍ د افغانستان یوه رسمي پلاوي د ۲۰۰۵ کال په کنفرانس کې ګډون وکړ او د افغانو ښځو لپاره یې د کار د ملي طرحې پیشنویس چمتو کړ. یونما، "جنسیتي مسایل"، ۱ګڼه، د ۲۰۰۵ د مارچ میاشت. یونما: کابل ۲۰۰۵.

۱۹. نوریس، ۲۰۰۷.

۲۰. ویلدر، ۲۰۰۵.



حتي د څوکيو د ترتيب په شان لاملونه په پارلمان کې د جنسيتي اړيکو او د پرېکړې نيونې د چاپېريال د بدلون سبب ګرځي.

# ۴. د ښځو ګډون: اوس مهال

دغه برخه د پارلمان اوسنۍ وضعه او د تېر یوه کال په اوږدو کې په هغه کې مېنځ ته راغلي بدلونونه څېړي. په لومړي سر کې په پارلمان کې د ښځو د حضور د سیاست په اړه دریو برخو ته په پام بحث کیږي: ښځې په پارلمان کې؛ په پارلمان کې له ښځو څخه د نارینه درک او خبرتیا او همدارنګه د وړاندې ځانګړو شویو ځوکیو څخه غلط تصور او دوهم د ښځو دجنسیتي ګټو د استازیتوب په موخه پارلمان ته د ښځو د راتګ انګېزې څېړل کېږي.

## ۱.۴ په ملي شورا کې د ښځو د ګډون سیاست

په پارلمان کې د ښځو د ګډون اغېزې به څه وي؟ آیا د دوي ګډون د قانون په جوړولو او یا د پرېکړو په نیولو کې کومه اغېزه لري؟ د جرګې د ځینو استازو په وینا حتي د ځوکیو د تنظیم او په پارلمان کې د پرېکړه نیونې فضا په تېر کال کې ډېرې ارزښتناکه جنسیتي اړیکې وې (دوهم چوکاټ ته دې مراجعه وشي) ښځې وتوانېدې د خپل سواد د لوړې کچې او کارونو او دندو ته د ژمنتوب په دلیل د دوي د ګډون او برخې اخیستنې ارزښت ثابت کړي.

باید یدې اړه لازیاته څېړنه وشي چې آیا ښځو کوم اغیزمن رول درلودي دي یا دا چې آیا ښځو په پارلمان کې په خپل مخامخ ګډون سره د پرېکړه نیونې په پروسو کې برخه اخیستې ده. په پارلمان کې ډېرئ مرکه کوونکي ښځو خپل ګډون د یوه ارزښتمند عامل په توګه وښوده او څرګنده یې کړه چې که چېرې ټولې ښځې په یووالي سره د یوې ډلې په توګه رایه ورکړي، دوي د پرېکړو د بدلون لپاره بسیا کوونکي رایې (۲۷ په سلو کې) لري. لاندې جملې د پارلمان د ډېرو استازو په استازیتوب د پارلمان د یوه استازي لخوا ویل شوې دي:

*"اته شپیته تنه ښځې په پارلمان کې په کار بوختې دي .مګر دوي یووالی نه لري؛ د دوي ټولو اندونه سره توپیر لري. که مونږ د یوې ډلې په توګه سره غونډې شو، مونږ به وکولای شو پر هغو پرېکړو چې نیول کیږي اغیزه وکړو. مګر اوس مهال دغه کار نشو کولای "*[۲۱]

د دغه فرض سره سره چې ښځې د دوي د جنسیتي خاصیت له کبله د شریکو ګټو لرونکې دي، که د دوي تر مینځ واټن موجود وي، حتي که دوي اکثریت هم وي تضمین کیدلای نشي چې د ښځو رایې په ټولیز ډول ورکړل شوې دي. په هر حال ډېرئ ښځو څرګنده کړېده چې "وروستنۍ پرېکړې د نارینه وو لخوا کېږي؛ ځکه چې دوي اکثریت دي. "[۲۲] دغه مطلب په ضمني توګه د نارینه وو په خبرو کې هم ښکاره شوي دي. د اسې څرګندونې نه یواځې د اکثریت د ډلې پر وړاندې نسبي کمزورتیا ښیي بلکه د ښځو او نرو تر مینځ د خلافت څرګندونه کوي .لدې کبله د دې خبرې څخه په صرف نظر چې آیا ښځې خپلې ګټې د جنسیت (جنسي برابرۍ) په بنسټ بولي او که نه، یوه ټولیزه فرضیه شته چې دوي باید دغه ګټې پر خپلو مینځو کې ووېشي. د ښځو او نرو تر مینځ توپیرونه شته دي، مګر اړینه ده چې ووایو چې د ښځو او نرو د ګټو ترمینځ لوی توپیر شته؛ لکه څرنګه چې د دغه ویش شاهدان یو چې په پارلمان کې وروستی واک د نارینه وو په اختیار کې دي[۲۳].

برسېره پر دې په پارلمان کې د ښځو ډېر شمېر د یوه منل شوي امر په توګه انګېرل کیږي او په ښکاره د ښځو د سیاسي ګډون د زیاتوالي په موخه تصویب شوي دي. په پارلمان کې ځینې ښځې په دې اند دي چې دغه امر کولای شي ددې مسئلې لامل شي چې نارینه د ښځو د حقونو اړوند نورو مواردو ته هیڅ پاملرنه ونه کړي. لکه څرنګه چې په لاندې وینا کې یې وینو:

*" دلته د ښځو لپاره کوم حقوق نشته. کله چې په پارلمان کې*

---

۲۱. د کندهار د یوې استازي مرکه

۲۲. د افغانستان د لویدیځ زون د ښځینه استازې مرکه

۲۳. د هغو کسانو څخه په منني چې د دغه ټکي د بیا کتنې په اړه یې مرسته کړېده.

*د ښځو د حقوقو په اړوند بحث کوو، نارینه وايي چې مونږ مخکې له مخکې د ښځو حقونه په نظر کې نیولي ځکه خو په پارلمان کې ډېرې ښځې شته."*[۲۴]

دغه وینا د پارلمان د ځینو نارینه استازو لخوا ملاتړ کیږي، د هغوی یو دا ډول څرګندونې کوي:

*"په ولسي جرګه کې ۲۸ په سلو کې چوکۍ ښځو ته له وړاندې ځانګړې شوې دي او دا تکې ددې ضمانت کوي چې دوی (ښځې) له خپلو حقوقو څخه برخمنې دي."*[۲۵]

که په پارلمان کې د ښځو ګډون د جنسیت د حقوقو د اجندا د راتلونکې پرمختګ څخه مخنیوی کوی په دی مانا چې د ښځو حقوق لا وختې پرځای شوی دی، نو په پارلمان کې د هغوی ګډون کېدای شي په غیر مستقیم ډول د جنسیتي ګټو د پرمختیا لپاره زیان رامینځ ته کړي.

## ۲.۴ د ګډون سیاست: د وړاندې ځانګړو شویو څوکیو په اړه د نارینه وو لیدلوری او د ښځو ګډون

بنایي جنسیتي مسئلې په ډلو ووېشل شي او د دغه امر په پایله کې بنایي نارینه په پارلمان کې د ښځو د یوې مخالفې ډلې په توګه رابښکاره شي. مګر دا دلیل نه شو ویلای چې نارینه په پارلمان کې په هره قضیه کې همغږي دي او له ځانه مخالفه موضع نه ښیي. لکه څرنګه چې په دریم چوکاټ کې څرګنده شوېده چې نارینه ډېرئ وخت د ښځو همکارانو ملاتړ وي. سره لدې چې وړاندې ځانګړې شوې څوکۍ د نارینه وو تر مینځ یوه د بحث وړ مسئله ده. د پارلمان یوه غړي چې د ځینو نارینه استازو نظرونه بیې وړاندې کول، دغه سیستم بې قانون ماتونه او د ټاکنو په اوږدو کې د نارینه وو د حقوقو د ساتنې د ژمنې تر پښو لاندې کول وبلل او ویې ویل:

*"که د ډیموکراتیک نظره وګورو ۶۸ څوکۍ بسنه نه کوي، ځکه خو باید د ښځو لپاره ۱۰۰ څوکۍ ځانګړې شوې واي. او له بل لوري ... ځینې نارینه وو ۶،۰۰۰ څخه تر ۸،۰۰۰ رایې درلودې او پارلمان ته ونه ټاکل شول، مګر یوې ښځې په ۱،۰۰۰ رایو کولای شول د پارلمان څوکۍ اشغال کړي. دا عدالت دي که ډیموکراسي؟ نه "*[۲۶]

د له مخکې ځانګړو شویو څوکیو سیستم د غیر ډیموکراټیکو اصولو د هڅولو په توګه، تر پوښتنې لاندې راځي. مثبت عمل په خپل ذات کې غیر ډیموکراټیک نه دي؛ په ځانګړې ډول که د لنډمهال مقیاس په سترګه هغه ته وکتل شي. په هر حال په هغه صورت کې ځینې نارینه استازي تصدیق کوي چې د ښځو لپاره له وړاندې ځانګړې شوې څوکۍ یوه اړتیا وه، ځینې څواکمن نارینه چې د مخامخ ټاکنو په پایله کې نه وو بریالي شوي، یو ګواښونکی ټکي دي. د ښځو او نارینه وو د رایو د شمېر په اړه اختلاف په زیاتو مواردو کې ډېر زوروَ چې دغه توپیر په ټولیزه توګه د ښځو ګډون اړین او مناسب نه باله.[۲۷] یوه نارینه استازي دغه کړنلاره په شوخۍ او ټوکه داسې بیان کړه: "دوی ته وویل شول چې تاسې یواځې د له وړاندې ځانګړو شویو څوکیو په پایله کې پارلمان ته ټاکل شوې یاست.[۲۸] "

دغه کړنلارې او انګېرنې د ټولو نارینه د لیدلورو استازیتوب نه کوي. په پارلمان کې ډېر داسې نارینه شته چې مثبت عمل ته د جنسیت په اړوند د تېرو نابرابریو او بې انصافیو د جبران په سترګه ګوري ("۱،۳" د پارلماني بحثونو ونډه: د مثبتو کارونو ارزونه" برخې ته دې مراجعه وشي) د بغلان څخه یوه نارینه استازي د ښځو لپاره وړاندې ځانګړې شوې څوکۍ اړینې و

---

۲۴. د کوچیانو د یوه تن استازي مرکه

۲۵. د بلخ د ولایت د یوه تن استازي مرکه

۲۶. د هرات د ولایت د یوه تن استازي مرکه

۲۷. ښځو د ځانګړو شویو څوکیو په پایله کې کولاي شواي په ډېرو کمو رایو سره پالمان ته لاره پیدا کړي، په هر ولایت کې په منځني شمېر سره کم تر کمه دوه څوکۍ د ګټل رایو څخه د صرف نظر سره په نظر کې نیول شوې وې. هر څو که د ولسي جرګې نوم آندي د ۱۰۰۰ څخه په کمو رایو سره وټاکل شول – له هغې ډلې د ارزګان د ولایت نوم آندي.

۲۸. د بدخشان د ولایت د یوه تن استازي سره مرکه

بللې تر څو د ښځو لپاره د ښه ژوند کولو معیارونه پوره کړل شي. په هر حال د جنسیتي انډول په اړه دغه ژمنې په پراخه توګه بیانول چې "کړنې په ورو ورو مخ ته بوزه" او ډاډه اوسه چې مخالف نظرونه را ونه پارېږي.

د غزني او بامیانو استازیو ستراتیژیک دلیلونه وړاندې کړل چې د خطا د مخنیوي لپاره په پاملرنه کار وکړي.

*"کله که کوم هېواد د ښځو د کونبي والي تاریخ ولري، نو مونږ باید پر دغه مسئله په ډېره پاملرنه کار وکړو. وروسته به مونږ په نږدې وخت کې ډېر فرصتونه ولرو. مونږ باید د فکر او ځیرکتیا پرته غبرګون ونه ښیو."*[۲۹]

*"که کوم مریض ۵ میلي ګرامه ویټامین ته اړتیا ولري، او تاسو ورته ۵۰۰ میلي ګرامه ورکړئ، نو دې به ومري. د مونږ ټولنه همداسې یوه وضعه لري. مونږ اړ یو دغه مسئلې په آرامۍ سره حل کړو."*[۳۰]

نورو نارینه استازو هم تاریخي پېښو ته ګوته نیوله دوي تصدیق کړه چې باید کار په ورو ورو مخ ته ولاړ شي. یوه تن څرګنده کړه: د امان الله خان د دوامداره فتواوو په وړاندې تند او له قهره ډک غبرګون، هغه مورد چې د غیر اجباري حجاب لوڅول هم پکې شامل وو.[۳۱] یا په بل عبارت د ښځو د پر مختلونکو حقوقو د جدي پرمختیا لپاره د پارلمان د نارینه استازو د نظر ټولیز یووالي باید په ځیر سره پلې شي. دغه پوښتنه راپورته کیږي چې آیا په پارلمان کې د نارینه وو استازو موقف کوم چې په پارلمان کې د دوي د ښځینه جوړې د ګډون او برخې اخیستنې سره موافق دي، کله چې د زور او جنجالي بحثونه تر بحث لاندې ونیول شي، ښایي په هوښیارۍ سره بدلون ومومي.

## ۳.۴ د ګډون سیاست: د څوکیو ځانګړي کول، ناسمه اخیستنه؟

ډېرو ښځو چې مرکه ورسره شوېده وړاندې ځانګړې شوې څوکۍ د بنسټ ایښودل شویو بې عدالتیو د له منځه وړلو لپاره د یوې وسیلې په توګه درناوی وکړ. لکه څرنګه چې د هغوي څخه یوې څرګنده کړه چې د دوي ټولو د عقیدو استازیتوب یې کاوه، مثبت عمل د طالبانو په وخت کې د ادارو څخه د ښځو د ایستلو سره سخت مخالف دي:

*"د طالبانو په وخت کې ښځو ډېر بد حال درلود. په ټولو دولتي ادارو کې نارینه سالاري حاکمه وه. اوس وړاندې ځانګړې شوې څوکۍ د مونږ لپاره غوره وخت دي... که دوي څوکۍ نه واي ځانګړې کړې، ښايي په ځینو ولایاتو کې چا ښځو ته رایې نه واي ورکړې."*[۳۲]

که څه هم چې د له وړاندې ځانګړو شویو څوکیو په اړه ډېرو کمو ښځو خپلې اندېښنې څرګندې کړې دوي وایي چې د نارینه وو په فکر په پارلمان کې د دوي حضور تر پوښتنې لاندې دي. برسېره په هغو ځینو نورو ښځو په دې اړه څرګنده کړه چې ځانګړې شوې څوکۍ د انتخاباتي بریاوو لپاره یو ضمانت دي، او داسې لید د آزادو ټاکنو د ترسره کولو انګیزه کمزوري کوي. پر ځانګړو شوو څوکیو تکیه د روانو انتخاباتي منډو ترړو لپاره د ملاتړ د شبکې د جوړولو اړتیا را کموي. یو بل اند داسې څرګند شو چې ځانګړې شوې څوکۍ په ۲۰۰۵ کال کې یوه اړتیا وه او د دغه سیستم مخ ته بېول هم تر هغه اړین دي چې د ښځو سیاسي ظرفیت جګ شي. دغه خطرناک اقرار تر سره شوی او لدې کبله د ځانګړو شوو څوکیو سیستم د لنډ مهال لپاره دي. په واقعیت کې دغه بحث پدې رپوټ کې راغلي چې د ځانګړو شوو څوکیو سیستم باید د تېرو بې عدالتیو د رفعه کولو لپاره یو لنډ مهال سیستم وي، نه ښځو ته په غیر عادلانه توګه د لومړیتوب

۲۹. د غزني د ولایت د یوه تن استازي سره مرکه

۳۰. د بامیانو د نارینه استازي سره مرکه

۳۱. د بامیانو د نارینه استازي سره مرکه. همدارنګه د کاندیوتي سره، ۲۰۰۵

۳۲. د وردګو د ولایت د یوې استازې سره مرکه

ورکول.

په هر حال د پارلمان يو ډېر شمېر استازي د هغه سيستم څخه چې په نظر کې ۇ پلي شي غلط تصور درلود. د اساسي قانون د ۸۳مې مادې په بنسټ، کم تر کمه ۶۸ څوکۍ د ښځو لپاره ځانګړې شوې دي[۳۳] (په منځنۍ توګه د هر ولايت څخه دوې ښځې) او نورې څوکۍ په عادي ډول دي چې د زياتو رايو لرونکو کانديدانو له خوا له هر جنسيت څخه چې وي ډکې کېږي.

اګر که اساسي قانون پدې اړه څرګندتيا لري د ښځو او نرو ټولو تر مينځ يوه معمولي آوازه شته چې دغه څوکۍ د نارينه وو حق دي.[۳۴] لاندې څرګندونې په پارلمان کې د استازو عادي ليدلوري دي:

*"په بلخ کې د ښځو لپاره يوائې درې څوکۍ دي مګر د نارينه وو لپاره اته څوکۍ."*[۳۵]

## دوهم چوکاټ: په پارلمان کې د ښځو د ګډون په اړه ليدلوري له يوه کال وروسته

موږ په پارلمان کې په ډلو نه وېشل کېږو ، بلکه موږ د الفبې په ترتيب ، ترتيب بندي کېږو ، ځينې ښځې د نارينه وو تر څنګ کښېني ، دغه مسئله په لومړيو کې د مجاهدينو او ملايانو استازو لپاره د ليوالتيا وړ نه وه. مګر په پارلمان کې ۶۸ ښځې، ټولي زده کړه کړې دي او نارينه يې تر اغېزې لاندې راوستي. اوس نارينه له ځانه سره وايي، "جالبه ده، ښځې کولای شي ښه نظرونه ورکړي او زياته مطالعه کوي". زما په اند دغه په ځينو قوماندانو کې يوه مثبته او لويه اغېزه ده چې مخکې حتې دې ته چمتو نه وو چې د دوی د فاميل پرته ښځو سره خبرې وکړي. (د پکتيکا د ولايت د ښځينه استازې سره مرکه)

" زموږ د ولايت د نارينه استازو څخه يوائې دوه تنه کولای شي خپل نوم وليکي... اوس مهال دوی کولای شي د استازي په توګه پارلمان ته حاضر شي او د ښځو سره خبرې وکړي. دوی د دوی د مقام په دليل نشي کولای له نورو سره په تاو تريخوالي رويه وکړي. د پارلمان يو غړي چې مخکې مولوي ۇ، اصلا يې ښځې نه خوښېدې، مګر اوس له دوی سره د بحث او خبرو اترو څخه راضي دي" (د فارياب د ولايت د ښځينه استازې سره مرکه)

" په پارلمان کې د ښځو ګډون يو اړين او ګټور کار دی. دوی د قانون جوړونې او ستراتېژۍ په جوړولو کې ښه نظرونه ورکوي. تر آوسه حتې ځينې نارينه وو هم په پارلمان کې نظرونه ندي ورکړي او ځينې يې بې اړيکې خبرې کوي. ځينې ښځې په پارلمان کې د حقوقو په اړه معلومات لري او لدې کبله په پارلمان کې د دوی ګډون ګټور وی " (د لوګر د ولايت د نارينه استازي مرکه).

"ښځو په پارلمان کې خپله ښه ونډه څرګنده کړېده، دوی د پارلمان د چارو په ترسره کولو کې لوی لاس ګډل کېږي. له اوس مخکې داسې انګېرل کېده چې ښايي په پارلمان کې ښځينه استازې بېسواده وي، مګر په حقيقت کې ځينې وخت دوی د نارينه وو په پرتله ښه نظر ورکوي " (د باميان د ولايت د نارينه استازي مرکه )

---

۳۳ د افغانستان اساسي قانون(غير رسمي ژباړه). له الف څخه تر يا پورې د افغانستان سره د مرستو لپاره، پنځمه نسخه ۲۰۰۷: کابل، ۹۵. له الف څخه تر يا د افغانستان سره د مرستې لارښود، پنځمه نسخه، ۲۰۰۷، کابل ۹۵

۳۴ د عمومي څوکيو پديده چې په عمومي ډول "د نارينه وو څوکۍ" انګېرل شوې دي د هندوستان په اړه هم په ملي کچه ياده شوې ده.

۳۵ د بلخ د ولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه

*"په ننګرهار کې ۱۴ څوکۍ دي چې له هغې ډلې ۱۰ یې د نارینه وو او پاتې ۴ څوکۍ یې د ښځو دي."*[۳۶]

*"زه پدې باور یم چې څوکۍ باید ځانګړې شوې نه وای. په پارلمان کې باید ټاکلې شمېر ښځې نه بلکه زه هیله مند یم چې په راتلونکي پارلمان کې به ډېرې ښځې وي، دا د دوی حق دی."*[۳۷]

په دې کړنلاره کې چې څوکۍ د هر کاندید د سیالۍ لپاره آزادې دي، اصولاً د انتخاباتو د کړنلارې څخه د مفصلو اطلاعاتو د نه شتون په پایله کې د رایې ورکولو په مهال د ټولو په اند څوکۍ د نارینه وو لپاره مناسبې دي. د پارلمان د ډېرئ ښځو او ځینې نارینه استازو له خوا پدې مسئله ټینګار وشو چې دغه ۶۸ څوکۍ د ښځو لپاره بسنه نه کوي. شته اندېښنه داده چې د ښځو لپاره کم تر کمه ۶۸ ځانګړې شوې څوکۍ ددې لامل کیږي په راتلونکي کې ښځې د ډېرو څوکیو د نیولو څخه لیرې ساتي.

## ۴.۴ د سیاست شتون: انګېزې او خنډونه

په ټولو هغو ۲۷ مرکو کې چې په پارلمان کې د ښځو استازو سره تر سره شوې دي، د ښځو جنسیتي مسئلې پارلمان ته د راتګ د انګېزو په توګه بیان شوې. د پنجشیر د ولایت یوې ښځې استازې په څرګند ډول بیان کړه چې د نوموړې شخصي انګېزه د ښځو لپاره د نوموړې ژوره او ستراتیژیکه اندېښنه ده:

*"ښځې بیوازې، مېرمن، مور، خور او لور دي. په افغانستان کې ښځې بیوازې دغه څلور بڼې لري. کله چې تاسې لور یاست، د تاسو لپاره قوانین او د کورنۍ لخوا ګواښونه شته. کله چې مېرمن یاست ستاسو لپاره د مېړه د کورنۍ لخوا قوانین ټاکل کیږي او کله چې مور یاست ستاسو د اولاد لخوا تاسو ته قانون ټاکل کیږي. کله چې ما دغه شیان ولیدل نو ومې غوښتل پدې اړه کار تر سره کړم."*[۳۸]

په کورنیو کې د نابرابریو بدلون، پارلمان ته د ښځو د راتګ یوه انګېزه ده. دغه یو خوځښت ښیي چې د ارث په اړه په کورنیو کې بې عدالتۍ ته تغیر ورکړي او تګلارې بدلې کړي چې د نارینه وو د امر منل ښځو ته د یوه کورنې معیار په توګه شمېرل کېده. نورو ښځو پارلمان ته د "ښځو د غږ د راوړلو" په اړه خبرې وکړې که څه هم هغوي په ځیر سره څرګنده نه کړه چې څرنګه د ښځو د غږونو د ټولګې څخه ادعا کوي. یوه ټولیزه فرضیه د دغو ښځو لخوا بیان شوه چې هغوي مخکې له مخکې د خپلو موکلینو له اندېښنو څخه خبر لري. نورې انګېزې هم بیان شوېدي ددې په ګډون چې د ښځو د ورتیاوو د ښېلګې په توګه په لوړو پوړو کې د نارینه وو سره ښځې شته تر څو د ښځو دغه موقعیت چې (ښځې د نارینه وو لخوا تر ګواښ لاندې وي) بدل کړي.[۳۹]

که څه هم دغه ستراتېژیکې ګټې بیان شوې، دغه بیان له ځان سره پدې اړه چې څرنګه کولای شو هغوی ته قانوني بڼه ورکړو وړاندیزونه نه درلودل. هغوی د ستراتېژۍ پرته ګټو په څېر پاتې شوې. د هغوي دلایل کېدای شي د ظرفیت کمښت یا د داسې میکانیزم نشتوالي چې د هغه له لارې دغو ګټو ته قانوني بڼه ورکړو، بیان کړو. بل دلیل د شته مختلفو قانوني سرچینو او د ښځو په اړه د دولت د ژمنې د همغږۍ لپاره د پام وړ پوهې نشتوالي دي. همدارنګه د وړاندیزونو په نشتوالي کې چې څرنګه دغه نظریې عملي بڼه غوره کوي، د ښځو د جنسیتي ګټو د ښودلو لپاره د انګېزې نشتوالی ولیدل شو.

د ښځو جنسیتي ګټې چې په عملي توګه د پلي کولو وړ دي، ډېرې ارزښتناکې دي. په پارلمان کې د ډېرئ ښځو روغتیایي مسئلې او د ښځو د روزنې او ګمارلو مسئلې خپلې اصلي اندېښنې وبللې. ډېرئ ښځو تصدیق کړه چې د هغوي قانوني رول دغه اندېښنو ته د ځواب ورکول نه دي، بلکه د هغه پر ځای په پارلمان کې د اړوند مسائلو په اړه استازیتوب دي. د دغې مسئلې سره سره د پارلمان ډېرو ښځینه استازو د دوی د

---

۳۶. د ننګرهار د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

۳۷. د لوګر د ولایت د یوه تن استازي سره مرکه

۳۸. دپنجشیر د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

۳۹. د لوګر، غور، غزني، بامیانو او بلخ د ولایتونو د استازو سره مرکې



په کورنیو کې د نابرابریو بدلون ، پارلمان ته د ښځو د راتګ یوه انګېزه ده

موکلینو د ستونزو د مطرح کولو په اړوند نبغ رول درلود. په پارلمان کې یوې ښځینه استازې د ډېرو مرکه کوونکو په استازیتوب هغه لارې چارې چې نومورې د خپل کلي کونډو سره مرسته کړې داسې بیان کړې:

*"زمونږ په کلي کې ډېرې کونډې شته او هغوي هیڅ روزي راوړونکې هم نلري. هغوي ماته راغلې او له ما څخه یې د ډوډۍ غوښتنه وکړه تر څو په مستقیمه توګه ورسره مرسته وکړم. زما مېړه چاې او بوره پیرودله او کله چې کونډې زمونږ کور ته راتلې مونږ دغه شیان ورته ورکول. همدا رنګه ما د یوې غیر دولتي موسسې څخه ۱۵۰ کمپلې واخیستې او کلي ته مې یوړې."*[۴۰]

دغه مسئله په پارلمان کې د استازو څخه د موکلینو د خدمت تمه او انتظار ښیي. د دغو تمو په پایله کې هغه رول چې استازي یې په نېغو مرستو کې لري ارزښتناک دي او اړینه ده چې دغه اړتیاوې په عمل کې ولیدل شي د دې ټکي د پوهېدو سره سره چې دغه تګلاره کومه رسمي او معموله تګلاره نه ده.

په پای کې پارلمان ته د ښځو د راتګ انګېزې د یوې ټاکلې ډلې د ګټو څخه استازیتوب دي. د وردګو د ولایت یوې استازې چې د پارلمان د ځینو غړو د نظرونو انعکاس وه، د نومورې په ولایت کې د هزاره ښځو اړتیاوې چې نومورې د هغوي استازیتوب کوي داسې بیان کړې:

*"کله چې ما ټاکنو ته ځان ونوماوه، زما موخه داوه چې د وردګو په ولایت کې د ښځو وضعه ښه کړم. د تاریخ په اوږدو کې مونږ ډېره بده وضعه درلوده او دا زما لپاره یو چانس دي تر څو له هغوي سره مرسته وکړم تر څو مکتب ته لاړې شي او سیاسي ډګر ته راووځي. دا زما د استازیتوب تر ټولو لویه موخه وه."*[۴۱]

دغه غړونه د هغو ډله ایزو لړکیو غړ دي چې نومورې ورسره تړاو لري او په سیمه ایزه، قومي او جنسیتي کچه دي. د نورو ښځو د نظرو پر خلاف یو تن ځواب ورکوونکي څرګنده کړه چې پارلمان ته د نومورې د راتګ انګېزه د دغو لړکیو استازیتوب ؤ دغه امر د ډول ډول هویتونو حقیقت څرګندوي چې په متعدد ډول بیان

۴۰ د شمالي سیمو د یوې ښځینه استازې سره مرکه

۴۱ د وردګو د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

شوي او په لويه پيمانه سيالۍ کېدونکې ګټې مينځ ته راوړي البته دا ځانګړنه يوائې د پارلمان د غړو نه ده مګر کېداي شي سيالۍ کېدونکو هويتونو ته لومړيتوب ورکول د دوي د کار د انګېزې په توګه وشمېرو. داسې مورد هم شته چې د پارلمان يو غړي خپل جنسيت د هويت څخه مخکې مطرح کړي:

*"زه يوه پښتنه يم، مګر مخکې تر هغې چې پښتنه وم زه يوه ښځه يم. سره لدې هم ځينې ښځې فکر کوي چې زه يوه پښتنه يم مخکې تر هغې چې يوه ښځه وم."*[۴۲]

په واقعيت کې د ښځو د جنسيتي ګټو په اړه اندېښنه او د نورو هويتي ګټو په پرتله هغوي ته لومړيتوب ورکول کاملاً توپير لرونکې اوضاع لري. قومي، سيمه ايز، ژبنی، شخصي او يا هم سياسي هويت ته په ډېرو مواردو کې د جنسيتي هويت په پرتله ډېر ارزښت ورکول کيږي. (۳,۵ برخه وکتل شي.) همدارنګه د نورو سياسي هويتونو شتون د جنسيتي ګټو د لارې خنډ ګرځېداي شي چې تر اوسه په پارلمان کې د تګلارې په توګه نه دي ښکاره شوي.



*د پارلمان د کار د پيل په لومړي کال کې، د وزارتونو سره مکاتبې او د دوي د کارنو د څارلو په موخه ۱۸ کميسيونونه جوړ شول. د ۱۸ کميسيونو د مشرانو څخه ۳ يې ښځې دي.*

۴۲. د کابل د ولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه. يو لامل چې د برخو د ساتنې يا لومړيتوبونو له ليدلوري د خلکو هويت ټاکي، د يوې مسئلې ټولنيز ارزښت يا شاليد دی. د بېلګې په توګه په داسې حال کې چې پښتانه په سيستماتيک ډول تر ستم لاندې ندي راغلي، ښځې او نظرځرګندوونکي زياتره ليواله دي چې خپله موضع د يوې ښځې په توګه وساتي نه د يوې پښتنې په توګه. له بل لوري هزاره ښځې چې د دوي د قوميت او يا جنسيت له کبله تر ستم لاندې راغلې دي ښايي خپل دواړه هويتي اړخونه په انډول ډول وساتي.

## ۵. پارلماني تړاو: د ټولیزو ګټو بیان

د ډله ایزو لړکیو، ډلو، یو بل ته وفادار ګروپونه یا حتي رسمي ګوندونوته د ګټو د ښودلو لپاره په ځانګړتیاوود هغه وېشل ګټور دي[۴۳]. منفردشخصیتونه او د هغوي پیرواني شبکې او ټولنې د افغانانو په سیاست کې د لسیزو لپاره اغیزمن او د پام وړ سیاسي قدرت درلود او د دوي د ښه والي لپاره لیوالتیا د هیڅ ډول مرکزي ایدیولوژۍ یا لیدلوري څخه برخمنه نه وه. د دغه ټولیزې قاعدې لپاره د اسلامي ایډیولوژۍ ارزښت دي چې مدرسې، عالمان او مذهبي خوځښتونه پکې شامل دي چې د دوي مشروعیت خوندي دي او د سیاست په دایره کې د دوي اغېزه د پام وړ ده. سره لدې دغه شبکې په ښکاره ډول ډوله، ډله شوې وې او ددوي د پیروانو په بنسټ یې عمل کاوه او ثبات یې نه درلود یا یې د ټولنیزو چارو لپاره ثابته پالیسي نه درلوده. دغې بېلګې د ایډیولوژۍ د سیاست او د هغه د پیروانو تر منځ توپیر نه دي مشخص کړی مګر دا حقیقت یې څرګند کړی چې دغه ډلې له یو بل سره سمون لري.

دې ته په پام چې په افغانستان کې ډېر کمې کړنلارې شته چې د هغه له لارې سیاسي فشارونه پلي شي، نامتجانس تر سترګو کیږي چې وراندیز وشي تر څو هغه ډلې او ګروپونه چې د یوې موضوع په هکله یو اند دي، د جنسیتي ګټو د ښودلو لپاره ارزښتناکې دي. سره لدې بیا هم لکه څرنګه چې په ۵،۱ غنوان لاندې برخه کې به زیات څرګند شي، مرسته او ملاتړ په دې مانا دي چې د هغه له لارې افراد په پارلمان کې نفوذ پیدا کړي چې د ډله ایزو ګټو د ښودلو او ښکاره کېدو لامل نه شي. بحث پر دغه ټکې دي چې دغه ډله د ښځو د جنسیتي ګټو په اړه په استازو باندې ډېره اغېزه کوي مګر د دغه ډلې جوړېدل او د هغه تثبیت د افغانستان د غیر عملي تاریخ سره ستونزمن دي چې په دې اړه کومه لاسته راوړنه ولري.

هغه ډله چې د عقیدې پر بنسټ سره راټولېږي د قومي او یا نورو هویتي مسئلو پر سر د راټولې شوې ډلې په پرتله ډېره ځواکمنه او ګټوره تر سترګو کیږي. هغه ډلې چې د عقیدې پر بنسټ دي د قومي، سیمه ایزو، ژبنیو، جنسیتي او نورو ټولنیزو مسئلو څخه پاکې دي، د قانع کولو لپاره ډېرې ګټورې ښکارې او همدارنګه د یوې ډلې د یوه ټاکلي هویت د غړو پربنسټ د مینځ ته راغلي ډلو په پرتله یو اوږد کمپاین لري.

دغه برخه د افغانستان په ولسي جرګه کې د بحثونو او نانډریو څخه جوړه ده. دری ارزښتناکې برخې څرګندیږي: د مشرتابه مسئلې، سیاسي شخصیتونه او د هغوي ملاتړي، بهرنۍ اغیزه او د نظرونو د سیاست مفکوره.

### ۱.۵ د مشرتابه مسئلې: شخصیتي سیاست، ملاتړ، شهرت

د پارلماني ډلو د جوړولو، نویو ګوندونو، پارلماني کمېټو او کمیسیونو له لارې د مشرۍ لپاره هڅې د یووالي د لارې پر سر یو لوي خنډ دي. د پروان د ولایت یوه استازي څرګنده کړه چې ۳۲ پارلماني غړي د ده سره دي مګر نوموړي غوښتل چې د یوې متحدې ډلې پر ځای دوې کوچنۍ پارلماني ډلې جوړې کړي. دغه تګلاره په ښکاره ډېرو مشریو ته اجازه ورکوي او وروسته ډېر دوستان یو ځای کېدو ته اړباسي[۴۴]. همدا ډول د مقامونو د عمومي دفتر لخوا سیاسي مرکز د ورتیاوو د پېژندلو پر ځای سیاسي موخو ته د رسېدو لپاره جوړیږي. یوه بله ښځینه استازې په دې اند ده چې د دوو مخالفو شخصیتونو شتون په یوه ډله کې د دې لامل شو چې نوموړې په هغه ډله کې د غړیتوب څخه ځان وساتي.[۴۵] لکه څرنګه یوه بل مفسر په خپله مرکه کې وویل: "په پارلمان کې ټول شیان په مشرتابه پورې اړه لري. نورې موضوع ګانې ارزښت نه لري... مشرتوب او جګړه ورته مهم دي."[۴۶]

---

[۴۳] ګوتز، ۲۰۰۲. "د قدرت د لنډېدو لاره نشته: په اوګانډا کې د سیاسي اغېزمنتیا محدودیتونه "د افریقا د مدرني مطالعو مجله.

[۴۴] د پروان د ولایت د نارینه استازي سره مرکه. د ولسي جرګې د تګلارې د دولسم حکم په بنسټ ، د پارلماني ډلې د جوړېدو لپاره اړینه شمېره کم تر کمه د غړو شمېره د مرکې پر مهال ۲۱ کسه وه.

[۴۵] د لویدیځو سیمو د ښځینه استازې سره مرکه

[۴۶] د یوه نړیوال سازمان د مشر څېړونکي سره مرکه

په نویو جوړو شویو ډلو کې د ګډون پرېکړه پدې اساس ده چې کوم کسان په هغه کې غړیتوب لري نه ددې په بنسټ چې څه ډول کړنلاره او پالیسي لري. دغه مسئله کومه حیرانوونکې خبره نه ده. لکه څرنګه چې پاس بحث وشو په افغانستان کې سیاسي فعالیتونه په مرکزي شخصیتونو پورې اړوند دي. په ځوابونو کې د ښځو د ګوندي ټولنو په اړه د نړیوال خوځښت په مسئله ډېر ټینګار کېده. هغو ښځو چې د ډلو په اړه خبرتیا نه درلوده، د پالیسۍ او تګلارې سره د نابلدتیاد څرګندولو پر ځای دوي په دغه ډله کې د لویو شخصیتونو په اړه اندېښنې ښکاربدې.

*"دا لومړی ځل دی چې زه د ښځو د ګوندي ټولنې په اړه اورم. زه نه پوهېږم څوک په هغه کې شامل دي او مخکې لدې چې زه ورسره یو ځای شم باید داډه شم چې هغه یوه خپلواکه ډله ده."* [47]

*ما په دې اړه (دښځو ګوندي ټولنه) نه دي اورېدلي. زه نه پوهېږم کومې ښځې په هغه کې غړیتوب لري."* [48]

که څه هم د ښځو څرګندونو د جنسیتي ګټو په اړه اندېښنې درلودې، د دوي لومړۍ اندېښنه دا نه ده چې ګوندي ټولنه پدې برخه کې څه کار کولای شي، اندېښنه داده چې څوک بنایي دغه کارونه تر سره کړي. دغه امر په خپل ذات کې په ملاتړیز سیاست کې د ښځو پر ګډون دلالت کوي. مرکه کوونکو د ښځو د چارو، مدني ټولنې او د بشر دحقوقو د کمیسیون لپاره د ښځو د کمېسیون د کارونو په اړه اندېښنه څرګنده کړېده. ظاهراً هغه شخصیتونه چې په یوه ډله کې شامل دي، د ډلې په اجنډا کې اغیزمن وي، لدې کبله "شخص" نشي کولای په پوره توګه د هغو شیانو څخه چې اندېښنه پاروونکې دي "ګوښی وي.

په هر حال کله چې د ګوندي ټولنې په شان ډلو سره د ښځو د یو ځاي کېدو انګېزې په نظر کې ونیسو، دا حقیقت چې شخصیتونه د پالیسۍ او کړنلارې په پرتله ډېر په نظر کې نیول کیږي، د پارلمان د لومړیتوبونو په تشخیص کې ډېر ارزښت لري.

نشو فرض کولای چې یواځې ښځې په پارلمان کې د ښځو د جنسیتي ګټو څخه استازیتوب کوي. ویاند او دوهم سرپرست چې د مشرتابه یو ښه مقام دي په لومړني کال کې یوې ښځې ته وسپارل شو چې د ځینو د قار لامل شو. دغه څرګندونې د مرکه کوونکو ښځو د لېدلورو څخه دي:

*"په خواشینۍ سره نوموړې له مونږ ملاتړ نه کوي. نوموړې یواځې خپله کړنلاره په نظر کې نیسي. اوس مونږ (په پارلمان کې ښځینه استازې) مرکز [49] لرو چې ډېر ښه دي مګر نوموړې وایي: ما دغه کار ستاسو لپاره کړي. ما یونیفم اړ ایست چې تاسو ته دغه مرکز جوړ کړي. ځینې ښځې د هغه څخه د ګټې اخیستنې څخه ځان ساتي دا ځکه هغوي نوموړې نه خوښوي. او فکر کوي چې نوموړې سږکال ښه کار نه دي کړي ... خلک لدې مرکز څخه ګټه نه اخلي ځکه چې ویرېږي چې دغه امر د نوموړې اعتبار زیات نه کړي."* [50]

دا ډول لیدل شوې ځانګړنې، د هغو استازو تر منځ چې د ځینو مشرانو تر اغېزې لاندې دي او هغه ډلې چې فرضاً استازې دي، اختلاف څرګندوي.[51] پر هغه برسېره دا څرګندونې پدې ټینګار کوي چې سیاست د افغانانو د ملاتړ او طبیعت بازۍ په بنسټ د یوه بریا او د بل ماتې ده. د جنسیت اجنډا ته د لومړیتوب په ورکولو سره سره ولیدل شول چې دغه ترکیب د یوې ببرنۍ پایلې

---

۴۷. د بلخ د ولایت د ښځینه استازې سره مرکه

۴۸. د پنجشیر د ولایت د ښځینه استازې سره مرکه

۴۹. د ښځینه استازو د سرچینو مرکز د ۲۰۰۲ کال د اګست په میاشت کې د یونیفم لخوا جوړ شو. دې ته په پام چې په نظر کې ده دغه مرکز د ولایتي شوراګانو د ښځینه استازو او د مدني ټولنې په واک کې هم ورکړل شي دهغه رسمي نوم تر بحث او بیا کتنې لاندې دي.

۵۰. د ښځینه استازې سره مرکه

۵۱. اسمیت، ۳۸.

تمه درلوده ترڅو د ښځو پر وړتیاوو تکیه وکړي او له دوی څخه د ملاتړ کچه پراخه کړي[۵۲] په ملاتړیز سیستم کې دغه ډول لومړیتوب ورکول ښایي د تمې وړ وي لکه چې د ملاتړیز سیستم د تړاو لرونکو پر امتیازات سترګې پټوي (او د زیات ارزښت نه لرونکې امر ترویج) کېدای شي له سیاسي پلوه یوه ماتې وي.

په هر حال په پارلمان کې ښځینه استازو پر شخصي ملاتړ باندې د "تکیې کولو" منفي لوري له یاده نه دي ایستلي. د لارو څخه یوه چې د هغې په وسیله ادعا کېده چې دا شخصیت د اداري او د نفوذ د پیدا کولو وړتیا لري، د زیاتو دندو ورسپارل وو د دې صورت څخه بغیر په کمیسیون پورې یې اړه درلوده. دغه امر په ښکاره د قار او ځورېدو لامل کېده او د کمیسیون د غړو تر مینځ یې بې اعتمادي مینځ ته راوړه.[۵۳] د ارګانونو په سیستم کې ښکاره کمزوري شته چې داسې دندې ورکولو ته اجازه ورکوي او شخصي پرمختلونکي نظرونه هڅوي. د پارلمان د ننه او بهر پېچلې ملاتړیزې شبکې شته او د متحد ګوند د جوړېدو څخه پرته د لوبې قانون د ځواکمنو لوبغاړو له خوا تعیینیږي. په پایله کې د ملاتړ کوونکو له لارې د مهمو شخصیتونو د ملاتړ د ساتنې لپاره لوی شخصیتونه ښایي د هغوی ګټو ته لومړیتوب ورکړي چې په نبغه توګه د نوموړی ملاتړ کوي. چې د ټولیزو ګټو (او همدارنګه د جنسیت) پر خلاف دي.

په پارلمان کې د ښځو د جنسیتي ګټو د ټولیز تمثیل په وړاندې یو اضافي خنډ د دوی مسؤلیت دي او د مهمو ښځو لخوا ژمنه شوې چې په پارلمان کې د نورو ښځو اعتبار به ساتي. د سپین ویونکو ښځو لخوا هر ډول "اشتباه" کېدای شي په پارلمان کې د نارینه وو لپاره یو سند وي چې ټولې پارلماني ښځې تر نیوکې لاندې راشي د بېلګې په توګه د ننګرهار د ولایت د یوې استازې څرګندونې داسې اشاره کوي:

*"کله چې یوه ښځه استازې د جهادي مشرانو په اړه خبرې کوي، سړي، ښځو ته ناوړه خبرې کوي، ناموسي خبرې، او موږ هم خواشینې کېږو ځکه چې موږ ښځې یو، موږ ځورېږو ځکه چې موږ ښځې یو."* [۵۴]

پر هغه برسېره که کومه ښځه په پارلمان کې سپینه خبره وکړي ښایي د نورو ښځینه همکارانو له لوري له خپلو ټولنیزو او سیاسي حقونو څخه بې برخې شي که چېرې نوموړې ددوی اعتبار او آبرو په نظر کې ونه نیسي. د یادولو وړ ده چې د ښځو قهر په ځانګړې ډول په نبغه توګه تر پوښتنې لاندې ښځې ته راګرځي نه د سړیو ناوړه نظرونو ته‌دا مسئله کېدای شي د ښځو د پراخې پر ټولنیزې مسئلې پورې اړونده وي چې د کورنۍ د پت د ساتلو دنده لري او هغه کړنلاره چې دغه ښځې د جنجال پاروونکو مسئلو یا د مشرتابه د رول په اړه د ګواښونو او خطرونو مسئولیت په غاړه اخلي د سړیو او د ښځو همکارانو لخوا یې د ټولیزې بدنامۍ د په نظر کې نه نیولو له امله پړ بلل کېږي. سیاسي شخصیتونو د ښځو تر مینځ رول لوبولی او هغه وېش چې د مشرتابه لخوا شوي دي، (مسئولیتونه) په ډېره کچه د ښځو د جنسیتي ګټو د تمثیل او تبارز څخه مخنیوی کوي.

## ۲.۵ بهرنۍ اغېزه: ګوندونه او د سیاسي خپلواکۍ محدودیت

په داسې حال کې بنسټیز شوي سیاسي ګوندونه [۵۵]، په افغانستان کې په رسمی توګه شتون نلري، د ګوند ویوکي (کلمه) په ټولیز ډول قومي مرکزونو او د تېرو مجاهدینو ډلو لکه جمعیت اسلامي او وحدت ته ویل کیږي چې لوبې اغېزې لري (که څه هم دائتلاف په اوښت یې کړې دي) او همدا اوس د سیاسي ګوندونو په چوکاټ کې ښکاره شوي او رول لوبوي. د هغو هڅو سره سره چې د دغو اغېزو د کمولو په موخه د یوه د نه

---

[۵۲] کاندیوتي، ۲۰۰۷. "سیاسي رویه د جنسیت په اړه خرابۍ رامنځ ته کوي: له جګړې وروسته بیا رغونه، "دموکراتیزه کېدل" او د ښځو حقوق". په کورنوال، هریسون، ویتهد، ادز کې د فمینیسم پراختیا: تناقضات. سیالۍ او ستونزې. زد کتابونه: لندن او نیویارک. ۲۰۰۷.

[۵۳] د لویدیځو سیمو د ښځینه استازې سره مرکه

[۵۴] د ننګرهار د ولایت د ښځینه استازې سره مرکه

[۵۵] د بنسټیز شوي سیاسي ګوند څخه موخه "دلته هغه ګوند دي چې د یوې منسجمې شبکې لرونکی وي او په هغه کې ګوندي پرېکړې کم تر کمه په رسمي بڼه جریان ولري او کاري تګلارې یې د مقرراتو پر بنسټ تنظیم شوې وي." رندال او سراساند، ۱۹۹۹. د ګوندونو او نوې ډیموکراسۍ بنسټیزه کېدل.

لېږد وړ رايي (SNTV) د سيستم له لارې تر سره شوې دي دغه په اصطلاح ګوندونه تر اوسه هم د پارلمان په کړنو اغېزه لري. دغه اغېزه د هغو ښځو له شمېر چې لا تر اوسه له هغوي سره اړيکه لري څرګندېږي.[۵۶] که څه هم په ولسي جرګه کې د ګوندونو او د دوي د استازو (نر يا ښځې) تر مينځ اړيکې سپينې او رښتيا ندي. ځواب ورکوونکو دغه ګوندونه د بهرنيو ګوندونو په نامه ياد کړل (د پارلمان د کارونو څخه خپلواک سازمان). د پارلمان زياتره استازي د يوه ټاکلي ګوند د غړي په توګه د پيژندګلوی سره سره په پارلمان کې خپلواک دي چې ائتلاف وکړي او يا هم له نورو سره په پارلمان کې تړاو پيدا کړي هغه هم په داسې حال کې چې لا تراوسه د بهرني ګوند سره منظمې اړيکې لري[۵۷] هغوي هميشه د بېروني ګوند له نظرونو څخه استازيتوب نه کوي او دا په زياته کچه پدې حقيقت پورې اړه لري چې د دغه ګوندونو ډېر کم شمېر پاليسي او متحده ګوندي کړنلاره لري.

د دې مسئلې په نظر کې نيولو سره ځينې استازو په خپلو مرکو کې څرګنده کړه چې په پرېکړه نيونه کې د قانون په ټپه دربدو لومړنی دليل د بهرنيو ګوندونو اغېزه وه که څه هم چه غير رسمي ده مګر د پارلمان په غړو پراخه اغېزه لري. د بهرنيو ګوندونو د پديدې چې له ښځو سره يې په انتخاباتي منډو تړو کې مالي مرسته کړېده پخوانۍ څېړنې ښيي[۵۸] چې دغه مرسته د زياتو لاملونو له کبله وه يو د هغو څخه د ځانګړو شويو څوکيو د سيستم مطرح کول ؤ چې په زياته کچه يې په پارلمان کې د بهرنيو ګوندونو اغېزه غښتلې کوله. په واقعيت کې ځينو ښځو د دغو ګوندونو لپاره کار وکړ که څه هم غير رسمي ؤ، د مجاهدينو او روسانو په وخت کې او د مخکينيو اړيکو په بنسټ د ګوندونو د استازو په توګه و ټاکل شوې. په ښکاره ليدل کيږي چې د پکتيا د ولايت څخه د يوې ښځينه استازې په وينا کې دغه د بهرنيو ګوندونو اغيزه لا تر اوسه شته:

*"ښځو ته ناشونې ده چې له يوبل سره يوځای وي ځکه چې ښځې خپلواکې نه دي هغوي د بهرنيو ګوندونو لخوا حمايه کيږي او دوی اړې دي چې هغه خبرې وکړي چې ګوندونه يې له هغوي غواړي."* [۵۹]

له بل لوري ځيني ښځې وتوانېدې چې د ګوند بهرنۍ اړيکې په ستراتېژيکه توګه بدلې کړي. د بلخ د ولايت د يوې استازې کيسه د دغه امر پېښېدل ښيي. هر څو که نوموړې د انتخاباتي منډو تړو د تمويل لپاره د کوم ګوند څخه پيسې اخيستې وې، د ګوند د چارواکو د غوښتنې سره سره چې د ګوند سره يوځای شي، نوموړې په ګوند کې د رسمي غړيتوب نيت نه لري. که له نوموړې څخه وغوښتل شي چې هغه پيسې بېرته ورکړي نوموړې به دغه پيسې له خپل معاش څخه ورکړي. لدې کبله د نوموړې پوهه دا ده چې سياسي ګوند پر هغو مسئلو چې نوموړې يې کولای شي په پارلمان کې مطرح کړي کمه اغېزه لري په داسې حال کې چې دغه غير رسمي جريان استازو ته په ځانګړې ډول ښځينه استازو ته د ملاتړيزو شبکو سره د اړيکو د پيدا کولو فرصت ورکوي، د "لوبې د قاعدو" نه بنستيزه کېدل ښايي د استازيتوب له ليدلوري زيان رسوونکي جنسيتي مسائل وي.[۶۰]

د اغېزې دوهمه سرچينه چې په پارلمان کې د ښځو پر باور باندې اغېزه کوي انفرادي نارينه غړي دي لکه قوماندان يا د هغه سره تړاو لرونکي يې. د دوي د اغېزې ارزښت په لاندې څرګندونو کې روښانه دي او له نارينه او ښځينه استازو سره په مرکو کې په پراخه کچه بيان شوي دي:

*"په پارلمان کې ډېرئ ښځې په خپله نشي کولای پرېکړه وکړي ، ډېرئ وخت هغوي ته د هغوي مېړونه يا پلرونه وايي*

---

۵۶. د سياسي ګوندونو د شعارونو او د دوي د پارلماني ملاتړ د بنسټ په اړه د معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ: ويلدر.

۵۷. د باميانو د ولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه

۵۸. وردزسورت، ۲۰۰۵. "د يرغمل نېولو سياست: په افغانستان کې د ښځو لخوا د قدرت لاسته راوړل. موردي څېړنه: په بلخ کې د ملي شورا ټولټاکنې ، ۲۰۰۵. "د ماسترسي نه خپره شوې رساله ، ۲۰۰۲.

۵۹. د پکتيا دولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه

۶۰. کويتز، ۲۰۰۲.

*چې څه ډول رايه ورکړي، که مېړونه ښځو ته ووايي چې ټاکلي شخص ته رايه ورکړي نو دوی اړې دي چې هماغه کار وکړي"*[٢١]

د سياسي خپلواکۍ دغه محدوديت د پرمسئلو ولاړو ډلو د جوړېدو په اړه ارزښتناک رول لري، ځکه هغه ښځې چې د دغه ډلې سرېږو سره مستقيماً اړيکې لري د دې ټکي د ټاکلو وړتيا نلري چې په چا باور وکړي. جنسيتي مسئلې معمولاً (ظريفې) موضوع ګاڼي انګېرل کيږي او د لوړپوړو او ځواکمنو لپاره لومړيتوب نه لري ـ لدې کبله د دغو مسئلو طرح کول په پارلمان کې د اغيزي کولو او د بريا د تولیز برداشت سره سم نه دي. حتي که ښځې خپله وغواړي چې د ښځو د جنسيتي ګټو په ډلو کې برخه واخلي، ښايي و نه توانيږي په فعاله توګه د دغو ډلو ملاتړ وکړي. دغه امر د دې نظر د پیاوړتيا لامل کيږي چې ښځې د قوماندان يا د هغې د نارينه تراو لرونکو د لاس د وسيلې پرته بل څه نه دي. هر څو که ډېرې ښځې استازې له هغې ډلې د مرکزي سيمو ښځو استازو د پارلمان د نارينه غړو د مرستو (چې د تر لاس لاندو د خوښۍ په موخه تر سره کيږي) په وړاندې د مقاومت په اړه خبرې کړي دي:

*"يوه لوی شخصيت له ما وغوښتل چې د هغه ملاتړ وکړم او ويې ويل که کوم پور لرم حاضر دي چې هغه ادا کړي، ما ورته وويل چې نه زما ستا سو پيسې نه دي پکار."*[٢٢]

له هغه ځايه چې د مرکه کوونکو خبرې د پيسو د منلو په اړه له ذهنه لرې خبره ده، سره لدې هم جالب ټکی د ادی چې ټولیز بحث د خپلواکۍ بحث دی

په پای کې په افغانستان کې د امنيت خرابې وضعې د ښځو سياسي خپلواکي محدوده کړېده او هغه ګټې چې دوی د هغه د طرح کولو وړتيا لري د هغه د ګواښونو له امله نه مطرح کيږي. دغه ټکی د ښځو په پټ ملاتړ کې په ځانګړي ډول د هغو استازو

دريم چوکاټ .د پارلمان تشکيل (جوړښت)

*د پارلمان مشرتابه په پنځو اصلي برخو وېشل کېږي: وياند ، د وياند لومړی مرستيال او دوهم مرستيال، منشي او د منشي مرستيال. د لومړي کال په اوږدو کې د اجرائي وزارتونو سره د مکاتبې او د هغوي د کارونو د څارلو لپاره ۱۸ کميسيونونه جوړ شول. د پنځه کميسيونونو څخه پرته چې د هغو غړي له يوه جنس څخه وټاکل شول (د ښځو د چارو کميسيون، مدني ټولنه او د بشر حقونه/ د دفاع کميسيون/د مخدره توکو، الکولو او فساد په وړاندې د مبارزې کميسيون/ د شکايتونو د اورېدلو کميسيون/او د نړيوالو چارو کميسيون) د نورو کميسيونونو غړي له دواړو جنسونو (نرا و ښځو) څخه جوړ شوي دي.* (ICG, op.cit 14)

*د دغه مطلب د ليکلو پر مهال د اتلسو کميسيونونو له ډلې څخه د دريو کميسيونونو رئيساني ښځې وې. د کميسيونونو څخه پرته د پارلمان د ننه پارلماني ګروپونه د جوړېدو په حال کې دي چې د هغو له ډلې څخه څلور ډلې تر دې دمه جوړې شوېدي ( مګر يوائې يوه يې رسمي ثبت شويده ) پارلماني ګروپونه نيت لري چې په پارلمان کې د ننه د سياسي ګوندونو بنسټ کېږدي او په پايله کې د عقيدې پر بنسټ سره راټول شي. د ثبت لپاره پارلماني ګروپ بايد ۲۳ غړي ولري ( هغوي چې جوړ شوي مګر ثبت شوي نه دي د غړو لازم شمېر يې نه دي پوره کړئ. ) پدې وروستيو کې د ښځې په مشرتابه يو پارلماني ګروپ جوړ شوي ( چې تر اوسه ثبت شوي نه دي ) او د پارلمان د غړو په اند د دغه ګروپونو د مشرتابه د څوکۍ د نيولو لپاره کومه رسمي ستونزه نشته.*

---

[٢١] د مرکزي سيمو د يوې ښځينه استازې سره مرکه

[٢٢] همغه؛ د مرکزي سيمو د يوې ښځينه استازې سره مرکه

چې سپیني خبرې کوي څرګند دي. یوه ښځینه استازې وایي: ښځې همکارانې ډېرئ وخت د دې سره د لاس ورکولو په وخت کې نوموړې ته د نوموړې د نظر د ملاتړ په اړه یاددښتونه ورکوي. هر څو که بیې په څرګنده خپل ملاتړ نه دي اعلان کړئ.[۲۳] لدې کبله په عمومي کچه په خپله مبارزه کې یواځې ده او دا هم د احتمالي امنیتي ګواښونه لامل ده. که څه هم ښځې په ډېرو مواردو کې د نوموړې سره هم اندې وې، مګر نه یې غوښتل چې خپل او د خپلې کورنۍ ژوند تر ګواښ لاندې راولي. لدې کبله امنیتي لاملونو د ښځو پر ملاتړ او نه ملاتړ اغېزه کړې او د دوی خپلواکي یې محدوده کړېده.

## ۳.۵ د نظر د سیاست پر وړاندې خنډونه: یوه د نه لېږد وړ رایه، قومیت او ملي یووالي

د افغانستان په پارلمان کې ښځې د ځینو مهمو نظرونو له مخې ډلې قانوني عمر ته د رسېدو د ملاتړ په اړه سره غونډې شوې دي. ډېرئ ښځې او ځینې نارینه په جدي توګه ددې وړاندیز سره مخالفت کوي چې نجوني باید د ۱۴-۹ کلونو تر مینځ قانوني عمر ته ورسیږي[۲۴](د هلکانو لپاره قانوني عمر ۱۸ کاله دي). د هڅو د همغږي کولو وروسته د نجونو قانوني عمر ۱۷ کلونو ته زیات شو، چې خپله یوه لویه بریا شمېرل کیږي. دغه مورد په پارلمان کې د ښځو د جنسیتي ګټو د تولیز ملاتړ په اړه روښانه بېلګه ده. دغه ټکې ته په پام، په پارلمان کې په ټولیزه توګه سیاسي کړنلارې ته چې د هغه په بنسټ یووالي رامینځ ته شي کمه پاملرنه کیږي او وروسته خپله یووالي ارزښتمند انګېرل کیږي. دا امر د دې ټکې په څرګندتیا کې چې ولې د ښځو د جنسیتي ګټو څخه په بنسټیزه توګه استازیتوب نه کیږي بنسټیز رول لري. د پارلمان ډېر کم شمېر غړي د پارلماني ګروپونو سره یوځای شوي یا د پارلماني ګروپونو د جوړښت پر مهال د هغو سیاستونو چې د هغه پر بنسټ سره راټول شوي، پوهېدلي دي. دا موضوع کېدای شي لدې کبله وي چې ډېرئ ډلې لا تر اوسه نه دي ثبت شوي، او استازي د هغوی د ګډوډو مواضعو په اړه د نظر د څرګندولو لپوالتیا نلري. هرڅو که دوه نورې څرګندونې هم د یادولو وړ دي.

لومړۍ څرګندونه د یوې او د نه لېږد وړ رایې د سیستم په اړه ده. د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو مخکې او وروسته ډېرو کسانو پر کرزي د دغه سیستم د ټاکلو له امله نیوکه وکړه. دوی پدې باور وو چې د ګوندونو دجوړولو سره ښکاره مخامخ کېدل له ګوندونو څخه د ولسمشر او خلکو د کرکې سره سره یواځې کولای شي د ملاتړیزو شبکو د غښتلتیا، د جوړو شویو ډلو د مکافاتو د زیاتېدو او د پارلماني کړنلارې څخه د صرف نظر چې په مثبت ډول ناآرام دي، لامل شي.[۲۵] دغه څېړنه پورتنۍ فرضیې مني. دې ته پام چې د ډلو کړنلاره نه غوښتل کېده، او نومونه د یوه فرد په توګه نه د کوم ګوند د غړي په توګه ثبتېدل (ګرچه دوی کولای شوای خپل ګوندي تړاو هم ښکاره کړي)، داسې کوم بنسټ نه ؤ چې د هغه له لارې پر مسئلې ولاړې ډلې رامینځ ته شي او یا د نظرونو په بنسټ سیاست وړاندې شي. لکه څرنګه چې ځینو استازو څرګنده کړه، دغه امر د پارلمان په هغو غونډو کې چې په هغو کې ۲۴۸ رایې د اورېدو لپاره سیالي کوي، ښې پایلې نه دي درلودې.

> "د پارلمان د کار د ستونزې یوه مسئله د پارلمان د جوړښت مسئله ده، زمونږ پارلمان د نورو پارلمانونو په شان د څو ګوندونو څخه نه دي جوړ شوي. مونږ ۲۴۸ څوکۍ لرو چې د ۲۴۸ ګوندونو څخه استازیتوب کوي."[۲۶]

دغه امر د هغو کسانو لپاره چې د ښځو د جنسیتي ګټو د استازیتوب لېوال وو، جدي عواقب درلودل. هغه ګټې چې ټولیز ماهیت یې درلود او د تابع کولو د جوړښتونو د ارزونې اړتیا ته د پاملرنې څرګندوېې وې چې پر ګڼ شمېر خلکو یې

---

۲۳. د فراه د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

۲۴. د نجونو وړاندیز شوي قانوني عمر په اړه رپوټونه یو له بله توپیر لري.

۲۵. وایلدر، ۲۰۰۵، ملي ډیموکراټیکه موسسه، ۲۰۰۵؛ رابین، ۲۰۰۵. "افغانستان د رایې ورکولو ناسم سیستم." د هرالډ ټریبیون نړیواله خپرونه، ۱۲ مارچ ۲۰۰۵. www.iht.com

۲۶. د جنوبي لویدیز سیمو د یوه تن استازي سره مرکه. دغه مسئله د Winbaum لخوا په ۱۹۷۲ کال کې د افغانستان د غیر ګوندي ډیموکراسۍ په اړه د نوموړي په بحث کې مطرح شوه. لومړی ټوک، شمیره، ۷۴-۱,۵۷.

اغېزه درلوده.

دوهمه څرګندونه د ولسي جرګې د مقرراتو او تګلارې په محدودیتونو پورې اړوند ده چې د قومي، ژبنیو، مذهبي یا سیمه ایزو شریکتیاوو په بنسټ د پارلماني ګروپونو د جوړښت مخنیوی کوي.[۲۷] په پایله کې ډېرئ ډلې د تر ټولو ارزښتناکو مسئلو د محدودیت سره سره جوړیږي نه د غړو د یووالي لپاره د ایډیولوژیکي بنسټونو په اساس. ځینو استازو ریوټ ورکړې چې د ډول مشرانو د مختلفو قومونو څخه د خپلو ډلو لپاره غړي حتي د کړنلارې د نه پوهېدو سره سره په کار اچولي دي. او په حقیقت کې د نظرونو سیاست وجود نه لري، لدې کبله ډلې نه غواړې داسي چاپېریال مېنځ ته راوړي چې په هغه کې د ښځو د ستراتېژیکو یا جنسیتي ګټو د ښه استازیتوب لامل وګرځي.

د ملي یووالي انګېزه د ډلو د جوړښت او د هغوي د غړي د نیولو د څرنګوالي لپاره ګټوره ده.[۲۸] هغه ټکي چې ډېرئ استازو پارلمان ته د دوي د راتګ انګېزه بللي ده. هر څو که د ځینو استازو څرګندوني ښیي چې قومیت لاتر واسه د پارلماني ډلو په جوړښت کې ارزښت لري. یوه مرکه کوونکي په دې اړه داسي وویل:

*هر افغان مشر په ژوره توګه پر قومي کتنو باور لري. دوي وايي چې د ټولو افغانانو ملاتړ کوي، مګر تل د خپلې قومي ډلې ملاتړي ... د بېلګې په توګه ځینو استازو ماته وویل: زما اند د هغه شخص له انده سره توپیر لري مګر زه نه شم کولای د هغه پرضد خبرې وکړم، ځکه چې مونږ له یوه قومه څخه یو.*[۲۹]

داسي ښکاري چې د نظر پر بنسټ هر سیاست د قومي هویت او شخصي ګټو په وسیله کنټرول کیږي. په حقیقت کې د "ملي یووالي" د پاروني لپاره هره طرحه شوې کړنلاره او دمختلفو قومونو څخه د ډلو جوړول د نظرونو د کلتور مینځي سیاستونو د یوځای کېدو مخنیوئ کوي. په مرکو کې را ټول شوي معلومات ښیي چې په پارلمان کې قومي هویت د ایډیولوژۍ او یا هم د جنسیت د تړاوونو په پرتله ډېر ځواکمن دي. په پایله کې ویلای شو چې د ښځو د جنسیتي ګټو د استازیتوب د ښه والي لپاره کومه غښتلې کړنلاره جوړېدای نه شي.

د ملي یووالي پر شعار د ټینګار یوه ارزښتمنه اغېزه داده چې ښځو ته د جنسیتي نابرابریو په اړه د اندېښنو د رامینځ ته کېدو مخنیوی کوي. د دغو مسئلو مطرح کول غالباً د ملي یووالي د جلاکوونکو او کمزوري کوونکو مسئلو په توګه انګېرل کېږي.[۷۰] په حقیقت کې په پارلمان کې د نسبي سولې د له منځه وړلو لپاره د ښځو لخوا د پام وړ او په تکتیکي ډول نه لیوالتیا لیدل کېږي. او داسي هڅه کېږي د لاسته راغلي ملاتړ د لاسه ورکولو له وېرې کومه بحث پاروونکې مسئله مطرح نشي. لاندې څرګندونې د جنجال د مخنیوي لپاره د ښځو د ډېرو لیوالتیا څرګندونه کوي:

*مونږ باید د آرامو خبرو کولو د میکانیزم څخه کته واخلو او د سرېیو پرضد د خبرو کولو څخه ځان وساتو ترڅو هغوي له مونږ. خواشیني نه شي. دغه میکانیزم مرسته کوي ترڅو د هغوي ذهنیت ورو ورو تغیر وکړي.*[۷۱]

ښایي دا روښ د ښځو د تحریک کوونکو خبرو په پایله کې د رامینځ ته شوي اړودوړ ته پام یوه ښه کړنلاره وي. په دې ترتیب د ملي وحدت د بحث څخه ستراتېژیکه ګټه اخیستنه او په پارلمان کې د سولې د راوستلو د اړتیا په اړه خبرتیا پخپل ذات کې کولای شي د ښځو د جنسیتي ګټو د استازیتوب په وړاندې خنډونه راپورته کړي.

---

[۲۷] د ولسي جرګې د کړنلارې ۱۳حکم

[۲۸] ۱۲Ibid,.

[۲۹] د کابل ولایت له یو نارینه استازې سره مرکه.

[۷۰] د هغه ناڅرګند نومي شخص څخه په مننه چې دغه ارزښتناکه ټکی یې یاد کړ

[۷۱] د هرات د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرک

## ۲. د استازيتوب رول:
## "انتخاباتي سيمه (حوزه) " او د هغه ضمني دلالتونه

د افغانستان په چاپېريال کې انتخاباتي سيمه يوه ناڅرګنده کلمه ده. په ولسي جرګه کې ځوکۍ د ولايتونو د نفوس د شته شمېر په نظر کې نيولو سره ځانګړې شوې دي[۷۲]، مګر د ملي شورا يو زيات شمېر استازي ځرګندوي چې هغوي په کليو کې د خوځښتي او د ولسواليو په کچه د ملاتړيزو شبکو لرونکي دي او دغه ملاتړيزې شبکې يې د ټول ولايت په کچه د انتخاباتي سيمې په توګه ښوولې دي. برسېره پردې د انتخاباتي حوزو څخه استازيتوب له دو يوپربل اغيزه کوونکو لاملونو څخه اغېزه مومي: لومړی جغرافيايي لاملونه، چې د پارلمان د استازي د ولسوالۍ يا د ولايت موقعيت په بر کې نيسي او دوهم د ملي شورا د غړي د ملاتړيزې شبکې خاص ترکيب دي چې ددې امر ځرګندونه کوي چې نوموړي په ملي شورا کې د کومو کسانو استازيتوب کوي.

### ۱.۲ د استازو مسئلې او موضوع ګانې: جغرافيايي لاملونه

د ملي شورا ټول هغه غړي چې ورسره مرکه شوېده، ملي شورا ته د رسېدو په موخه کابل ته د دوی د ولايت د واټن په نظر کې نه نيولو سره په کابل کې کور په کرايه نيولی او يا هم په کابل کې شخصي کور لري. د ولايت څخه د ګڼور استازيتوب په موخه د پام وړ ټکي اړونده ولايتونو ته د استازو د بېرته ستنېدنې ستونزه ده چې د ډېرئ وخت د مالي زېرمو د کمښت يا نشتوالي، د زيات واټن او د سړکونو د خرابوالي او همدارنګه د نورو اندېښنه پاروونکو مسئلو لکه د موسمونو اقليمي شرايطو له کبله مېنځ ته راغلې دي چې د پارلمان زياتره استازي لدې ستونزو سره مخ دي. لاندې څرګندونې د هغو شکاياتو له ډلې دي چې ټول استازي د هغه په اړه متفق القول دي:

*" زه په خپل ولايت کې د خلکو سره هيڅ ډول اړيکه نه لرم ځکه چې له يوې خوا د موږ ولايت د کابل څخه ډېر واټن لري او له بلې خوا لاري ډېرې خرابې دي. زه په ولايت کې دفتر نلرم ځکه چې وکيل ته د دې موخې لپاره کومه بوديجه نه ورکول کېږي. يوازې د ولايت په مرکز کې مخابراتي سيستم شته، په ولسواليو کې هيڅ ډول آسانتياوې نشته. "* [۷۳]

هغه موده چې يو استازی د هغه په اوږدو کې خپل ولايت ته ځي او بېرته راګرځي په هغو شرايطو او حالاتو پورې اړه لري چې پاس د هغوي يادونه وشوه او همدارنګه خپله د پارلمان د استازي لخوا د لومړيتوبونو په اساس يا په شخصي ډول او يا هم د تجاري مسائلو او ګټو پربنسټ ټاکل کېږي. د پارلمان د استازو او د هغو د ټاکونکو تر مېنځ د مستقيمې ليدنې او يا هم د ټيليفون له لارې کلک ډاډ شته[۷۴] مګر تر هغو سيمو پورې چې د مخابراتي شبکې په وسيله تر پوښښ لاندې راغلې دي.[۷۵] انتخاباتي حوزه کابل ته د سفر په مهال د ارتباطي ستونزو له منځه وړلو په موخه چې د پارلمان استازې د مشورې لپاره د هغه سره مخ کيږي يو ارزښتناک رول لري.

د ډېرئ استازو لومړيتوبونه د ولسوالۍ او حتی کلي د مسئلو سره تړلي دي چې د ولايتي کچې د ګټو سره مخالفت لري. په هغو مرکو کې چې د استازو سره شوې دي څرګنده شوې چې دوی ځوکۍ د ولسوالۍ يا کلي د همغږي کولو او د دوی ته د رايو د

---

۷۲ د افغانستان د اساسي قانون ۸۳ ماده

۷۳ د مرکزي سيمو د يوې استازې سره مرکه

۷۴ د موبايل ټيليفون له لارې پر اړيکه د ټکيې يوه ننبه د بلخ د ولايت د يوه استازې لخوا وړاندې شوه: " يوه ورځ په پارلمان کې کوم چا يوه استازي ته ټيليفون وکړ او د خپلو ستونزو په اړه وغږيده، استازې د هغه غږ لوډ سپيکر ته وصل کړ تر څو د پارلمان ټول غړي د هغه غږ واوري. د بلخ ولايت د يوه تن استازي سره مرکه ۰۷.

۷۵ زياتره وخت دغه امر د ولايت په مرکز پورې محدود وي.

ورکولو لپاره د خلکو د هڅوني له لارې تر لاسه کړې دي[76] د داسې کار د تر سره کولو لپاره ښايي د پارلمان استازي د دغو ولسواليو ګټې د ټول ولايت د ګټو په پرتله لومړې وبولي. هغه څېړنې چې د پارلماني ټاکنو په اړه تر سره شوې دي، دا حقيقت يې څرګند کړې دي چې ښځې د رايو ورکوونکو د همغږې کولو په موخه د احتمالي امنيتي ګواښونو، د انتخاباتي منډو ترړو په اوږدو کې د ناپېژندو خلکو سره د هغوی داړيکو په سبب د هغوی د بدنام کېدو او د هغه سره په عين وخت کې د کانديدانو لپاره د رايو د ټولولو تر ټولو ډېرې کچې، د ستونزو سره مخ وي.[77] په پايله کې هماغه ډول چې د جنسيت د ګټو مسئله د دغو ښځو لخوا په پارلمان کې او په ۴،۴ فصل کې بيان شوه د انتخاباتي حوزې مسئله ډېره ساده او څرګندوي.

د جغرافيايي مسئلې له نظره د پارلمان استازو ته امنيت يوه باارزښته مسئله ده. يوه فرضيه چې په دې اړه مطالعه شوه او په پارلمان کې هم بيان شوه د جنسيت او موکل مسئله چې په ولايت کې د امنيتي وضعې سره نېغه اړيکه لري. يا په بل عبارت په هغه صورت کې چې په ولايت کې ناامني وي کم امکان شته چې استازي د ولايت څخه ليدنه وکړي لدې کبله د زياتو ستونزو او ننګونو سره مخ وي. او له بل لوري هم د استازو او د دوی د موکلينو تر مينځ کمې اړيکې د دې مسئلې لامل کېداې شي. پر هغه برسېره که په ولايت کې د سولې اوټيکاو کچه کمه وي، په پرېکنده ډول د هغوی استازي نشي کولاې تر څو د هغه ځاې د مسئلو او تحولاتو په اړه خبرې وکړي او يا د سيمې غوښتنې په ښکاره او روښانه توګه بيان کړي. په پايله کې کم احتمال شته چې د ښځو جنسيتي ګټې په ښکاره او يو په يو توګه بيان شي. د دې فرضيې له مخې د استازو ډول ډول ځوابونه موندلاې شو چې ځينې يې د لاندې څرګندونو سره سم دي.

*"د هلمند د ولايت يوې استازې کله چې غوښتل چې د ولايت په اړه خبرې وکړي نورو استازو هغه پرېنه ښوده او ويې ويل که نومورې د ولايت په اړه خبرې وکړي نو د سيمې خلک د طالبانو تر ګواښ لاندې راځي."* [78]

*"د نا امنو سيمو استازې مسئلې په ډيپلوماتيکه توګه بيانوي ترڅو د دوی ژوند تر ګواښ لاندې رانشي... ددې لپاره چې زه په امنيت او د ګواښ څخه ليرې وم د خپل ولايت د حقايقو کابو ۸۰ په سلو کې نه بيانوم."* [79]

لدې کبله د امنيت موضوع د نارينه وو او ښځو د محدودولو او د دوی د علاقې وړ ګټو او مسئلو د بيان دڅرنګوالي لپاره ډېره ارزښتناکه ده. ځينې ځوابونه د فرضيې خلاف لوری ثابتوي. دغه لاندې کيسه د کندهار د ولايت د يوې استازې لخوا وړاندې شوې او په ښکاره توګه دا نظر څرګندوي.

*"د استازو يوې ۷ کسيزې ډلې غوښتل چې کندهار ته سفر وکړي او د هغه ځايه ليدنه وکړي. دوی پرېکړه کړې وه چې يواځې لاړشي مګر ما ټينګار وکړ چې زه هم د دوی سره د لارې مل شم. کله چې کندهار ته ورسېدو استازو وويل چې مونږ د پنجوايي ولسوالۍ ته ځو (هغه ولسوالي چې ويل کېدل هلته شديده جګړه روانه ده). دوی وويل چې زه له هغوی سره سفر نشم کولاې او دوی د امنيتي او ساتونکو ځواکونو په مرسته سيمې ته ولاړل مګر ما په يوه معمولي نقليه وسيله کې سفر وکړ ترڅو د خلکو سره خبرې وکړم. زه د دغو خلکو څخه ويره نلرم ځکه دوی د ما خپل خلک دي."* [80]

۷۶ د فراه د ولايت د يوه استازي سره مرکه

۷۷ وردزورت، ۱۴-۱۷.

۷۸ د پنجشير د ولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه

۷۹ د جنوبي لويديز سيمو د يوه تن استازي سره مرکه

۸۰ د کندهار د ولايت د يوې ښځينه استازې سره مرکه

لدې کیسې داسې ښکاري چې نور لاملونه هم شته چې ښځې د دوی د ولایت څخه د لیدنې پر مهال ورسره مخ کېږي چې کیدای شي کورني محدودیتونه او د مردسالارۍ مسئلې پکې شاملې وي مګر د دوی یوائېنۍ وېره د امنیت نشتوالي دی. په هغو مرکو او څرګندونو کې چې دښځو لخوا شوي دي د دوی هیڅ یوې هم نه ده څرګنده کړې چې د دوی خپلوان او کورنۍ ولایت ته د تلو او د هغه د لیدنې مانع شوي دي، مګر په ډېرو څرګندونو کې ښکاري چې ځینې سیمې شته چې ښځو استازو د تګ او د هغه ځایه د لیدنې لپاره له خطره ډکې دي. دغه څرګندونې د ښځو د جنسیت د مقولې په دننه کې له ځانه سره محدودیتونه لري. هغه محدودیتونه چې د ښځو پر وړاندې شته دي تر یوه ځایه د هغو واقعیتونو سره سم دي چې نارینه استازي د ناامنۍ د زیاتوالي لامله د هغه سره مخ دي. په هر حال د مسئلو ، ستونزو او ګټو د تبارز لپاره د ملي شورا د استازو علاقمندي او لیوالتیا یا وس د دوی د کورني وضعیت او اړیکو او د امنیتي وضعې په ارزونه پورې تړلې دي نه د ولایتونو په واټن پورې.

## ۲.۷ د استازیتوب مسئلې: ملاتړیزې (حمایتي) شبکې

کله چې د پارلمان استازي د دوی د ولایت څخه لیدنه کوي، د هغه موکلین د خپل استازي د هرکلي لپاره ډېر لګښت کوي کوم چې د دوی د بېرته راګرځېدو څخه وروسته ډېره اغېزه کولای شي (څلورم چوکاټ). تر یوه ځایه په پارلمان کې د استازو او د هغوی د موکلینو تر مینځ دغه ارتباطي محدودیتونه شته، سره لدې چې د استازو لخوا په کابل کې دوی د موکلینو د مېلمه پالنې مسئله یو معمولي امر دی.

ویل کیږي چې مېلمه پالنه د اړیکو د پیداکولو او ساتلو او د هغه د ملاتړ په اړه یوه مهمه مسئله ده. د مېلمه پالنې دغه ستونزې چې د پورته افرادو لخوا څرګندې شوې، د ټاکنو پر مهال د اړیکو د پیاوړتیا د شویو ژمنو او لګښتونو لنډیز دی.[۸۱]

په پارلمان کې استازي د ښځو او نارینه وو په ګډون پدې هڅه کې دي تر څو د خپلو موکلینو تمې او هیلې چې د ټاکنو پر وخت څرګندیږي پوره کړي ترڅو وکولای شي په خپلواکه توګه د انتخاباتي منډو ترړو په اړه کار وکړي. مېلمه پالنه ددې لامل کېږي ترڅو د تمو او ملاتړ پډېده وده وکړي او ځانته د خدمت حالت غوره کړي. د هغو استازو په وینا چې غواړي په رښتنا د خپلو موکلینو لپاره په عملي توګه خدمت او ورسره مرسته وکړي، د دوی ستونزې او هېلې بیان او پدې اړه د پارلمان رول په سهي توګه څرګند کړي.

*"زه غواړم ولایت ته ولاړ شم تر څو د خپلو خلکو سره ووینم. زه په اوړي کې هلته لاړم مګر له هغه وخت راهیسې د ژمي تر اوسنیو رخصتیو پورې نه یم تللی. زه خجالت یم او د شرم احساس کوم چې ولې مې ونشو کړای د خپلو خلکو لپاره کوم کار تر سره کړم."*[۸۲]

هماغه ډول چې اشاره وشوه ښځې او نارینه دواړه د زیاتو نا مشهودو ګټو په پرتله د انتخاباتي حوزې چې هلته غونډې جوړېږي، د تمو پر ارزښت زیات ټینګار کوي.

د پارلمان د استازو لپاره د عادي ښځو او نارینه وو سره د اړیکې پر وړاندې محدودیتونه شته او خپله دا موضوع د جنسیت د مسائلو او د غوښتنو پر بیان اغېزه لري. د پارلمان یو غړي په دې اړه څرګنده کړه چې د پارلمان استازي د انتخاباتي حوزې د ډېرو برخو او د انتخاباتي حوزو د ځای د ټاکلو په اړه د ټولنې د ټیټ پوړي قشر سره د اړیکو لپاره د ارتباطي وسایلو د کمښت سره مخ دي. او لدې کبله په پرېکنده ډول نشي کولای د عادي خلکو پر ستونزو ټینګار وکړي.[۸۳] دغه لید په ځانګړي ډول د ټولنیزې تشې څخه د خبرتیا په توګه چې د پارلمان د ځینو استازو په تېره بیا د ښځینه استازو د څرګندونو او ادعاګانو څخه سرچینه اخلي او پدې ټینګار کوي تر څو هغه ستونزې چې

۸۱ په زړه پورې دا چې دغه موضوع کومه جدي پدیده نه ده او په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو په نشتوالي پورې اړوند ده چې د دې صورت څخه پرته باید د مشغول کوونکو مېلمنو لپاره آسانتیاوې برابرې کړي.

۸۲ د جنوبي لویدیزو سیمو د یوه تن استازي سره مرکه

۸۳ د غزنې د ولایت د یوه تن استازي سره مرکه

ددوي پر وړاندې شته له منځه يوسي. لکه څرنګه چې زيات شمېر استازو د جنګړو کلونه له هېواده بهر تېر کړي او پدې وروستيو کې هېواد ته راستانه شوي دي يوه لويه تشه شمېرل کېږي. د ملي شورا استازي په ټوليز ډول ادعا کوي که وکولای شي چې د عادي ښځو سره مرسته وکړي او ډېرئ يې په عملي توګه د ښځو د اړتيا پوره کول غواړي.

په هرحال تر سره شوو کارونو ته په پام هغوي تل په ذيدخل مسئلو کې ځانونه خير غوښتونکي[84] او ځانونه د کم وسو خلکو سره په مرستو کې شريک بولي، که څه هم دا ډول مرستې منفي لوری نشي درلودلای مګر د استازو لپاره د ملاتړ د يوه سرويږي په توګه شمېرل کېدای شي.

په ټوليز ډول هغه ارتباطي محدوديتونه چې د ملي شورا د استازو او ټولنې تر مينځ شته چې د ټولنيزو مرکزونو او د مدني ټولنې د ارګانونو د نه ملاتړ لامله منځ ته راغلي دي. په هېواد کې د ښځو د خوځښت نشتوالي ددې لامل شوي چې په پارلمان کې دننه ديوالي مينځ ته راتلل د ستونزې سره مخ شي. په پاکستان کې د ښځو د اقداماتو د ټولنې د دوامداره کارونو او په ترکيه کې د ښځو حقوق پوهانو د ټولنې د ښو کارونو په پايله کې د قانون او د جنسيت د مسائلو د اجنډا د برابرۍ په اړه ډېر پرمختګونه شوي دي. په افغانستان کې د نورو عواملو تر څنګ[85] د جګړې ناوړه اغېزې او ميراث د دغه ډول پرمختګونو خنډ ګرځېدلي او د ښځو د جنسيتي ګټو د هڅو او جنسيتي انډول ته د رسېدو لپاره د قانوني ملاتړ د نشتوالي سبب ګرځېدلي دي.

**څلرم چوکاټ؛ مېلمه پالنه**

"کله چې خپل ولايت ته ځو، زمونږ ملاتړي زمونږ ليدو ته راځي او مونږ بايد د دوي مېلمه پالنه وکړو او ډوډۍ ورته چمتو کړو. لګښت يې ډېر زيات دي– مونږ څه ډول کولای شو لدې کم معاش سره د دوي مېلمه پالنه وکړو؟ مونږ د مياشتې ۱،۰۰۰ ډالر معاش اخلو. کله چې ,, ورځې په بادغيس کې وم، ۲،۰۰۰-۱،۰۰۰ ډالره مې د (ټولې کورنۍ) د لېږد رالېږد لپاره ولګولې. وروسته هره ورځې د ۲۰۰-۱۰۰ کسه زما ليدو ته راتلل او اړوم چې د دوي د ډوډۍ لپاره پيسې خرڅ کړم. د دغه لګښتونو پوره کول په ځانګړي ډول د ښځو لپاره ډېر ستونزمن دي. څکه کوم سړي چې په پارلمان کې ګډون لري، شتمن دي. زما مېړه دنده نلري او زه هم اړ يم چې د کورنۍ لګښت پوره کړم. " (د افغانستان د لويديځ د ښځينه استازې مرکه)

زمونږ کلتور مونږ ته امر کوي چې د خلکو مېلمه پالنه وکړو. که خلکو ته پاملرنه ونه کړو، دوي د نورو په وړاندې شکايت کوي چې فلانې مونږ ته د سهار چاي، د غرمې يا د شپې ډوډۍ رانکړه. دوي به وايي چې "مونږ تاته رايه درکړه او ته حتی نشې کولای مونږ ته د سهار چاي راکړې! (د افغانستان د شمالي سيمو د ښځينه استازې مرکه).

" کله چې زمونږ په ولايت کې خلک زمونږ ليدو ته راځي بايد د دوي لپاره ډوډۍ تياره کړو. دوي تمه لري چې زمونږ د ليدو لپاره د ۲۰-۵۰ کيلومتره لارې د وهلو وروسته له دوي سره داسې رويه وشي، دوي تمه لري چې دوي ته ډوډۍ ورکړو. د بېلګې په ډول سږکال په اوري کې چې خپلې سيمې ته تللې وم، خلک مې ليدو ته راغلل او اړ شوم چې د دوي د ډوډۍ لپاره ۸ پسونه حلال کړم. دغه لګښت مې له خپل جېبه کړي دي. " (د بدخشان د ولايت د نارينه استازې مرکه).

[84] د مرکزي او جنوبي سيمو د استازو سره مرکې

[85] باسو، د آسيا په سهيل کې ښځې، سياسي ګوندونه او ټولنيز خوځښتونه

## ۷. نه پاملرنه او اجرائي مداخله

د ډېرو هغو خنډونو سره سره چې تر بحث لاندې ونیول شول، د ښځو جنسیتي ګټې په پارلمان کې په ډېره کمه کچه مطرح کیږي. په افغانستان کې د تېرو کلونو په اوږدو کې جنسیتي نانډولتیا ته په پام دغه کوم پرمختګ نه شمېرل کېږي. په هر حال هغه برخه ګټې چې په پارلمان کې مطرح شوي دي تراوسه یې په قانون جوړونه کومه اغېزه نه ده درلودلې[۸۲]. تر یوه ځایه د اړین ظرفیت څخه د استازیو نه برخمنتوب د دغه امر لامل شوي دي. لدې کبله د جنسیتي مسئلو په اړوند د حساس قانون جوړولو د هڅونې لپاره د اجرائي چارواکو له خطر څخه ډکه دنده په خپل ذات کې له ستونزې سره مخ ده. لاندې برخې د دغه امر دلیلونه تر څېړنې لاندې نیسي:

*د ښځو جنسیتي ګټې په پارلمان کې په کمه کچه زیاتوالي مومي مګر لا تر اوسه د تقنین په پروسه کې کومه اغېزه نلري ه*

### ۱.۷ اجرائي محدودیتونه: د "ښځو په فضا کې" د ښځو لپاره فضا

د ښځو استازو د اندیښنو څخه یوه په اجرائیوي برخه کې د هغوي چاپېر شوي ګڼون دی. د ښځو اجرائیوي ګډون نه یواځې محدود بلکه په یوه بنستیز ډول د ښځو پر فضا پورې تړلئ دی. لدې کبله اوس مهال یواځې یوه وزیره (د ښځو د چارو وزیره) په کابینه کې ګډون لري. دغه ډېر کم استازیتوب د دغه څېړنې سره مرکه کوونکو ټولو ښځو استازو تر نیوکې لاندې راغلي دي او د ښځو د جنسیتي ګټو څخه یو دي چې ښځې د هغه په اړوند یو شوي دي، ډېرئ ښځینه او نارینه ځواب ورکوونکو دغه جنسیتي مسئلې ته د پراخې پاملرنې په اړه داسې وویل:



*د ښځو جنسیتي ګټې په پارلمان کې په کمه کچه زیاتوالي مومي مګر لا تر اوسه د تقنین په پروسه کې کومه اغېزه نلري ه*

[۸۲] د یوه نړیوال سازمان د پروګرام د مسئول سره مرکه

*په کابینه کې یوائې یوه وزیره حضور لري، مونږ تولې ښځې کرزي ته ورغلو او له هغه څخه مو غوښتنه وکړه چې ښځو ته په مشرتابه کې زیات فرصت ورکړي او هغه هم ژمنه وکړه چې که کوم نارینه وزیر په خپل کار کې پاتې راغی د هغه په ځای به ښځه ټاکي، مګر په خپله ژمنه یې وفا ونکړه.*[87]

ښځو او خپلو ژمنو ته د کرزي د نه ژمنتوب درک کولای شي د وزارت څوکۍ ته د نوم اندو هغه ډلې ښځو د باور د کمزورۍ لامل شي چې د هغوي ورتیا د نارینه وزیر د ورتیا انډول او یا د هغه څخه زیاته وي. ښځو ته د ډېرو اجرائي څوکیو د ورکولو په اړه د ښځو استازو یووالي دا ټکی څرګندوي چې که څه هم چې د ښځو ګډون نه بسیا کوونکي ښکاري، د مختلفو وزارتونو د رهبرۍ په کچه کې حضور د ښځو د وړتیاوو په اړه د نظر د بدلولو په موخه ډېر زیات ارزښتمن دي.

**پنځم جدول: د ښځو د چارو د وزارت په اړه لید لوري**

*زه د دغه وزارت څخه کرکه کوم، ځکه سړي مونږ د هر پیښیں شوي کار لپاره هلته لیږي، یو وزارت نه شي کولای د ښځو تولې ستونزې حل کړي (د کوچیانو د ښځې استازې مرکه).*

*د لنډ مهالي دولت په وخت کې باید نړیوالې ټولنې یو کار کړي واي، د طالبانو د له مینځه تلو څخه وروسته یوه سمبولیک ځان نبودنه مګر باید وګورو چې په دغه وزارت کې د ښځو ګډون، په نورو وزارتونو کې د هغوي په ګډون کومه ناوړه اغیزه کوي؟ (د غزني د ښځې استازې سره مرکه).*

*د ښځو د چارو وزارت یو سیاسي وزارت دی چې نړیوالو ته ونښیي چې ښځې زمونږ د اساسي قانون په بنسټ حقوق لري ( د کندهار د یوې ښځینه استازې سره مرکه).*

په اجرائي کچه د ښځو د چارو د وزارت په چوکاټ کې د ښځو محدود ساتل په پارلمان کې د ډېرو نارینه او ښځینه استازو په اند په نورو برخو کې د قانوني تغیراتو د راوستلو په اړه د ښځو د توانایيو د محدود کولو په مانا دي. دغه ټکی ډېر ارزښتمن دي چې یوائینۍ ښځینه وزیره د ښځو د چارو وزیره ده. نارینه او ښځینه استازو د ښځو د ګوښه کولو او په یوه وزارت پورې د هغوي د محدودولو په اړه په ګډه اندېښنه څرګنده کړه. د یوه مرکه کوونکي انګېرنه داوه چې "مونږ یوائې یوه وزیره لرو او هغه هم د ښځو د چارو وزیره، د دغه ټکي مانا څه ده؟".[88] زیاتره خلک دغه وزارت ته د یوه سمبولیک، یو ډول نړیوال تحمیل شوي وزارت په توګه چې د ښځو ډېرو مسئلو ته یې لاره اواره کړې، په سترګه ګوري (**۵**م جدول).

د دغه اندیښنو سره سره ډېرئ هغو ښځو استازو چې د دغه خبرې سره یې مرکه کړې دغه وزارت ارزښتمن بللي او په راتلونکي کې د هغه د اوږدمهالي شتون څخه ملاتړ څرګندوي. هر څو که د دغه وزارت د رسمي رول په اړه ډېرې ناڅرګندتیاوې شته. آیا د ښځو د چارو وزارت د خدماتو د وړاندي کولو، سیاست جوړوني، د ملاتړ د میکانیزم، د جنسیتي مسائلو د پرمختګ یوه وسیله د یادو شویو مواردو ترکیب او یا هم یو توپیر لرونکی شي دي؟ د دغو ناڅرګندتیاوو شتون په تېرو پنځو کلونو کې چې د دغه وزارت د جوړېدو څخه تیرېږي، د دغه وزارت د پایلو په اړه د ناڅرګندو تمو د رامینځ ته کېدو لامل شوي. د دغه وزارت د نه بسیا کوونکو فعالیتونو لامل د بودیجې په نه شتون پورې اړه لري. یوه استازي په خپله مرکه کې داسې وویل:

*وزارت د کار لپاره بسیا کوونکې بودیجه نلري. د ښځو د چارو د وزارت کلنۍ بودجه د دفاع د وزارت د ورځنۍ بوجې سره انډول ده.*[89]

[87] د سمنګان د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

[88] د کابل د ولایت د یوې ښځینه استازې سره مرکه

[89] د مرکزي سیمو د یوې ښځینه استازې سره مرکه ، په ۱۳۸۵ کال کې تر ۱۳۷ میلیون ډالرو زیاته ملي بودیجه د دفاع د وزارت لپاره ځانګړې کړې وه او د ښځو د چارو د وزارت لپاره یې ۲/۳ میلیون ډالره. دغه شمېرې د خرځ شوې کچې د شمېرو ښکارندوي نه دي ، مګر د دولت لومړیتوبونه ښکاره کوي. د ۱۳۸۴کال ملي بودیجه، د بودیجې ریاست، د ملي دفاع وزارت

د ښځو د چارو د وزارت په هکله بل نظر دادي چې دغه وزارت د اوس مهال لپاره بس دي مګر په راتلونکي کې بايد د هغه ځاي يو بل اغيزمن شي ونيسي.

د نظر له ليد لوري د ښځو د چارو وزارت د افغانستان د بنسټيزو جوړښتونو يوه برخه ده او يا هم د بن په کنفرانس کې د دولت لخوا د ښځو په اړه د شويو ژمنو ځرګندوي دي. هر څو که په عمل کې دا ګواښ شته چې دغه وزارت دښځو د جنسيتي انديښنو د ليرې کولو لپاره کار کوي او د نورو وزارتونو په کار کومه اغيزه ونلري. د دغه وزارت شتون د ډېرو استازو په اند په نورو برخو کې د قانوني تغيراتو د راوستلو په اړه د دوي د ظرفيت د محدود کوونکي په توګه انګېرل کيږي. په حقيقت کې دغه امر د ښځو لپاره د دولتي تشکيلاتو د نيوکه کوونکو د نظر سره موافق دي چې د ښځو وضعيت دا ډول بيانوي: "د سرچينو نشتوالي او سياسي ګوښه توب، دغه جوړښت په سياست جوړونه باندې ډېره کمه اغيزه کوي." [۹۰] دغه کړنلاره په دولتي موسساتو کې ښځو ته د کمې ونډې د ورکولو سره سره د سياسي پريکړو د کولو څخه د ښځو ګوښه کول ځرګندوي.

په اجرايي کچه د ښځو د حضور د نشتوالي سره سره دوي په ستره محکمه کې هم استازې نه لري، [۹۱] دا هغه موضوع ده چې ډېرئ ښځې د هغه په اړه انديښمنې دي. يوې ښځې ځرګنده کړه چې د دغه مسئلې طرح کول د نه پاملرنې سره مخ شوي دي:

*د کرزي سره په وروستنۍ غونډه کې نوموړي ومنل چې بايد په ستره محکمه کې يوه ښځه حضور ولري مګر تر اوسه پدې اړه هيڅ اقدام نه دي شوي، زه پدې باور يم چې هغه پر ښځو باور نلري.* [۹۲]

مطرح شويو جنسيتي ګټو ته د چارواکو نه پاملرنه د دغو ګټو د غوښتونکو ښځو لپاره د خواشيني کوونکو لاملونو په توګه شمېرل کېداي شي. که دغو ګټو ته نه پاملرنه همداسې جريان ومومي، د وروستيو پايلو نشتوالي نشي کولاي چې غالباً سياسي اړتياوې توجيه کړي.

## ۲.۷ اجرائي مداخله: له فساد څخه اخيستنې (برداشت)

د افغانستان د پارلمان يوه لويه دنده د دولت پر کړنلارو څارنه او د انډول د راوستنې او د غيرمجازو او ناوړه کارونو د مخنيوي لپاره د دولت ځواب ورکوونکي ساتل دي. د ډېرئ هغو استازو په وينا چې له مونږ سره يې مرکه کړېده، دغه رول د دولت لخوا د هغو پلويانو ته د ډېرو مکافاتو په نظر کې نيولو له امله د له مينځه تللو په حال کې دي (شپږم چوکاټ). [۹۳]

دغه مطالب که مستند وي او که نه د فساد برداشت په خپل ذات کولاي شي د مقننه ځواک پر کړنو اغېزه وکړي. د رپوټونو سره سم په ځورونکې کچه نه يواځې داچې د پارلمان د مشرتابه لخوا نمحدودېږي بلکه د داسې ميکانېزم په توګه کارول کېږي چې د هغه لارې پارلماني ګروپونه جوړېږي. لکه چې يوه استازې ځرګنده کړه: "مونږ دري ځله هڅه وکړه چې يو پارلماني ګروپ جوړ کړو مګر نورو ګروپونو زمونږ استازي په بيه واخيستل." [۹۴] اخلاقي انديښنو تر څنګ، دغه امر په راتلونکي کې د پارلماني ګروپونو د جوړيدا او يووالي په اړه انديښنه پاروونکې دي. که داسې فرض کړل شي چې اعتقادي بنسټونه او سياسي کړنلارې په ټوليزه توګه وجود نلري، دا احتمال شته چې استازي په ډېره آرامۍ سره واخيستل شي. د جنسيتي ګټو پر استازيتوب د دغه امر اغېزې بې شمېره دي، د پارلماني ډلو په کمزورتيا سره هغه ارزښتمني او جوړوونکې کتنې چې دغه

---

۹۰. موخوپادهاي او مير، ۲۰۰۴. د خلکو د غږ او د اړتياوو د انعکاس لپاره د زمينې برابرول: د جنسيت د مسئلې په پام کې نيولو سره د دولت نوي تعريف، ۱۳ مخ. مستردام: د کي آي تي خپرونې.

۹۱. ستره محکمه له ۹ غړو څخه جوړه شوې ده چې د يوې ۱۰ کلنې دورې لپاره د ولسمشر لخوا انتصاب (غوره) کېږي. (د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۷). اوس مهال دغه ټول غړي نارينه دي.

۹۲. د مرکزي سيمې د يوې سځينه استازې مرکه

۹۳. د رپوټونو پر بنسټ دغه مخالفت د قانون خلاف کارونه کړي دي، مګر دولت د پارلمان د استازو لپاره د معاش څخه پرته د زياتو مواردو د چمتو کولو په هڅه کې دي.

۹۴. د شمالي سيمو د يوې استازې سره مرکه

مسئلې د هغه له لارې د حل وړ دي هم په انکار نه کېدونکې ډول کميږي. برسېره پر ده که داسې فرض کړو چې پر دولت د اغېزې يوائينی لاره د رشوت ورکول دي د خورا زياتې شتمنی د نه لرلو پرته مثبتو پايلو ته رسېدل ناشوني دي، او د اغېزې کولو لپاره د هځو انګېزه هم له مينځه ځي. دغه امر پر دولت باندې د نيوکې لپاره د ښېلګې په توګه د جنسيتي ګټو په اړه د سياست جوړولو د حساس ټکې په برخه کې د استازو د نه ليوالتيا لامل ګرځي

نړيوال بانک[٩٥] استدلال کوي چې په ارګانونو کې د ښځو زياتوالي د فساد د کمښت لپاره ګټور دي. له بل لوري د پارلمان استازو د فساد په اړه په خپلو مرکو کې کوم داسې څه نه دي څرګند کړي:

*فساد يوه ناروغي ده چې په هر ځاي کې شته، که نبځې او نارينه په خپل ځان باور ولري نه فاسديږي او دا مسئله د نبځې توب او نارينه توب سره اړه نلري[٩٦]*

د ښځو سره په مرکو کې د مشرانو څخه د ښځو لخوا د پيسو د اخيستلو او بهرنيو سفرونو او نورو مکافاتو کيسې کيږي، دغه مطالب په ضمني ډول د نړيوال بانک د نظر مخالف دي، پدې مانا چې په پارلمان کې ښځې د نارينه وو په کچه فاسدې کيداي شي. لدې کبله دا فرضيه چې د ښځو ذاتي ځانګړنې د فساد په چارو د هغوي د شريکېدو څخه مخنيوي کوي، د شک وړ ده.[٩٧]

### شپږم چوکاټ. فساد

*مونږ په دوو ډلو وېشل شوي يو، اپوزيسيون يا کيڼ اړخي او د دولت پلويان د کرزي او د کابينې د ځينو وزيرانو لخوا د استازو ملاتړ په پيسو اخيستل کيږي. کله چې پارلمان په کار پيل وکړ، استازي ډېر فعال وو او غوښتل يې چې د خپلو خلکو سره مرسته وکړي مګر اوس دوي يوائې د دولت ملاتړ کوي او خپل زرغون او سره کارتونه د دولت د غوښتنې سره سم پورته کوي. (د کندهار د يوې ښځينه استازې مرکه).*

*ځينې استازي د قانوني په اړه ډېر بد شيان وايي چې دولت پدې موخه هغوي ته واک ورکوي او يا په هندوستان کې د هغوي د اوسېدو لګښت ورکوي ما وغوښتل چې د دولت لوری ونيسم ځکه هغوي د استازو لپاره ډېر خدمتونه کوي، مګر زما استازيتوب ماته دا اجازه رانکړه. (د شمالي سيمې د يوې استازې مرکه).*

*دولت استازو ته د پيسو د ورکولو له لارې پر کابينه د هغوي د څارنې ورتيا اخيستې ده او په حقيقت کې د پارلمان سره معامله کوي ( د بغلان د يوه استازي مرکه).*

---

٩٥. د دولار، فيزمن او ګتي مرکه د ښځې جنس؟ په دولت کې ښځې او فساد، د جنسيت او پراختيا په اړه د سياست جوړونې د څېړنو راپور، د کاري اسنادو لړۍ، ۴ ګڼه، ۱۹۹۹. د اقتصادي مديريت او د بېوزلی شبکه/ د نړيوال بانک د پراختيايي څېړنو ډله.

٩٦. د کندهار د يوه تن استازي سره مرکه

٩٧. ګتز، ۲۰۰۳. سيتسي تصفيه کوونکې: څرنګه ښځې کولاي شي د فساد سره د مبارزې يو څواک وي.

# ۸. نړیوالې مرستې

نړیوالې ټولنې د افغانستان د پارلمان په جوړولو کې بنسټیز رول لوبولی دی. د ورکشاپونو، سیمینارونو او د بهرنیو پارلمانونو څخه دلیدنې له لارو د استازو روزل او هغه پروژې چې د دارالانشا د ظرفیت جوړونې او نورو کارکوونکو لپاره ځانګړې شوې دي، د نړیوالو مرستندویانو لخوا مرسته شوې چې د هغوی ډېره برخه د جنسیتي مسایلو په اړه ځانګړې تمرکز درلود. د پارلمان سره د هغه د جوړېدو راهیسې نړیوال مرستندوي سازمانونه عبارت دي له: د ملګرو ملتونو د پراختیا اداره-د افغانستان د مقننه ځواک د جوړېدو ملاتړ، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق، ملي ډیموکراټیکه موسسه، د نیویارک ایالتي پوهنتون او په کمه کچه د نړیوالو جمهوریت غوښتونکو موسسه IRI، نړیوال حقونه او د فریدریش ابرټ ټولنه. د پورتنیو سازمانونو څخه جوړه یوه کاري ډله، هره میاشت د پارلمان لپاره د پلان شویو فعالیتونو د څېړنې په موخه لیدنه کوي. په دې برخه کې دا موضوع څېړل شوې چې دغه عاملین خپل کار په څه ډول درک کوي او استازي له دغو فعالیتونو سره څه ډول چلند کوي.

## ۱.۸ اړتیاوې او میکانیزمونه: نړیوال لید لوري

د اړتیاوو د ارزونې له لید لوري نړیوال سازمانونه د مرستو او د پروګرامونو د جوړولو په اړه د استازو د نظرونو د پیدا کولو په هڅه کې دي. د یوه نړیوال سازمان استازي د هغې تګلارې په هکله چې دهغو په اساس یې مستقیما د ښځو استازو ټاکلو پوښتنو ته ځواب ورکړی دي داسې څرګنده کړه:

*په ستره محکمه کې د ښځو په اړوند ولسي جرګې له مونږ څخه و غوښتل چې د شریعت په اړوند ورکشاپونه په لاره واچوو... مونږ دغه امر له یوناما سره د شریعت حقوقي مشاورینو ته د لاسرسي په سبب شریک کړ، تر څو له مونږ سره د ښځې او شریعت او دښځو ددفاع لپاره د شریعت څخه دګټې اخیستنې په غونډو کې مرسته وکړي، لکه څرنګه چې نارینه یې د خپلې دفاع لپاره کاروي.*[98]

زیاتره ښځو په خپلو مرکو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده چې نارینه له هغوی سره په بحثونو کې د اسلامي دلایلو څخه ناوړه ګټه اخلي او هغوی غواړي چې خپلې نظریې د دیني ملاتړ په وسیله ځواکمنې او له خپلو نظریو څخه دفاع وکړي. لدې کبله د ښځو او نارینه وو د اړتیاوو تر منځ توپیر په خپله د ښځو په وسیله مینځ ته راځي.

د نړیوالو سازمانونو استازو هم په دې اړه خبرې کړې او د جنسیتي لیدلوري څخه د دوی د پروګرامونو د تیتوالي په اړه یې هم خپلې کتنې وړاندې کړې:

*ښځینه استازې ځانګړې اړتیاوې لري او د ځانګړې پاملرنې وړ دي. دا لومړی ځل دی چې دوی په پارلمان کې حضور لري او ځینو ته یې ګواښونه هم شوي دي. دوی سیاسي سابقه نلري او له همدې امله د اړین داډ څخه برخمنې نه دي. مونږ باید د جنسیتي مسائلو له لیدلوري د پروګرام جوړولو لپاره ځانګړې روزنیز پروګرامونه په لاره واچوو.*[99]

لدې کبله د پارلمان استازو او نړیوالو سازمانونو د ښځو لپاره د پارلماني چارو د زده کړې په اړوند ټاکلې اړتیاوې په نظر کې نیولې دي. د یوه نړیوال سازمان د استازي د مطالبو په تایید چې وړاندې یاد شول، ډېرئ ښځې ځانونو ته هغه ډاډ او باور اړین بولي چې روزنه کولای شي دوی ته یې ورکړي. هر څو که دافرضیه سهي نه ده چې ټولې ۶۸ ښځینه استازې د دغو پروګرامونو په اړه د نارینه وو په پرتله د ډېرې اړتیا احساس کوي، د ښځو د اړتیاوو په اړه د نړیوالو سازمانونو لخوا ټاکلې

---

[98] د یوه نړیوال سازمان د پروګرام د مسئول سره مرکه

[99] د یوه نړیوال سازمان د پروګرام د مسئول سره مرکه

نظرات وړاندې شوي، د بېلګې په توګه د دې ټکي فرض کول چې ټولې ښځينه استازې پر ځان باور نلري يو ډېر ټوليز تعميم دی. ښځې د نارينه وو په پرتله د اړتيا ډېر حق لرونکې بلل پر نورو د ځان غوره بلل دي.

*ما د دغه ورکشاپونو په اړه اوريدلي دي مګر زه د هغو په اړه زياته تجربه نه لرم. په دغه ورکشاپونو کې ځينې ښوونکې تېر مهال زما زده کوونکي وو. ځينې بهرنې ښوونکې ښه دي، مګر زه د دوی د تجربې د کموالي له امله پدې ډول غونډو کې زيات ګډون نه کوم.*[100]

*زه د ډول ډول روزنيزو دورو ۱۲ برې ليکونه لرم. د بېلګې په توګه جنسيت يو ډېر لومړنی امر دی او مونږ ټول د هغه په اړه پوهېږو.*[101]

په پورته يادو شويو مواردو برسېره ځينو ښځينه استازو وړانديز وکړ چې نارينه کولای شي د جنسيت د اړوند زده کړو څخه زياته ګټه تر لاسه کړي. د بېلګې په توګه ډېر پروګرامونه ښځې د بهرنيو پارلمانونو د ليدو په موخه بهرنيو هېوادونو ته لېږي. د نورستان د ولايت د يوې استازې په وينادغه سفرونه ځکه د نارينه وو په ګټه دي چې هغوی وينې چې په نورو پارلمانونو کې ښځې او نارينه څه ډول چلند سره کوي.

د افغانستان په کور دننه غالباً د جنسيت اړوندو زده کړو ته نارينه دعوت کېږي "مګر دوی هلته ګډون نه کوي ځکه دوی فکر کوي چې دغه غونډې يوازې د ښځو لپاره دايرېږي."[102] لدې کبله بايد د جنسيت مسئله د نارينه وو او ښځينه وو په ټولو ګډو ناستو او په روزنيزو ورکشاپونو کې په نظر کې ونيول شي او دغه ناستې د ښځو لپاره د ځانګړې شوي حالت څخه رابهر کړل شي. دغه امر په پارلمان کې د ښځو د جنسيتي ګټو طرحې ته خپلواکي او ښکاره توب ورکوي او په هغو ناستو کې چې يوازې د جنسيت لپاره جوړېږي، نارينه د ګډون لپاره هڅوي.

د ښځو استازو لويو اړتيا ته د ځوابونو له ډلې د پارلمان د استازو د ملګرو ملتونو انکشافي پروګرام او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستو وجهي صندوق مرکز دي چې د ۲۰۰۶ کال د اګست په مياشت کې پرانستل شو. دغه مرکز د ښځو لپاره د کنفرانسونو، سيمينارونو او شخصي مطالعې د ترسره کولو لپاره وړ فضا رامنځ ته کوي (دغه مرکز په کتابتون او په کمپيوټر خونه باندې سمبال دی). دغه مرکز د ظرفيت جوړونې لپاره ارزښتناکه آسانتيا ده. له دغه مرکز څخه هره ښځينه استازې ګټه اخيستلای شي (او ډېر ژر ښايي د ولايتي شوراګانو د ښځينه استازو، د ښځو شورا او د مدني ټولنې د نورو ډلو په واک کې هم ورکړل شي). سره لدې داچې آيا ښځينه استازې جلا فضا ته اړتيا لري د بحث وړ ده. په حقيقت کې دا مرکز د ښځو او نارينه وو تر مينځ د ګوښې والي لامل کېدای شي[103] او په سهوې سره کولای شي د پارلمان دننه عمومي فضا لکه د پارلمان کتابتون څخه د ښځو د ګوښه کېدو لامل وګرځي. دغه موضوع د مثبت او پرېکنده فعاليت چې په لومړۍ برخه کې ياد شو پروړاندې د بحث لړۍ ده.

برسېره پر دې لکه څرنګه چې ۵،۲ سرليک په برخه کې بيان شوه، پدې وروستيو کې د مرکز د ټاکلې مشرتابه له کبله ښځې د هغه څخه د ګټې اخيستنې لپاره ډېره لېوالتيا نلري. دغه او نورو بېلګې ته په پام څرګنده ده چې د پارلمان سره نړيوالې مرستې د يوې سرچينې په توګه انګېرل کېږي، چې بايد د پارلمان د استازو لخوا ورته پاملرنه وشي. په فردي توګه د دغو مرستو د لاسته راوړلو لپاره سيالي هم يوه عادي خبره ده. د حيرانتيا خبره داده چې مرستندويان د پورتنيو مواردو د پوهېدو سره سره خپل کار ته دوام ورکوي او همدارنګه د هغو فرضيو او استثناګانو پر

۱۰۰ د وردګو ولايت د ښځينه استازې سره مرکه

۱۰۱ د ننګرهار ولايت د يوې استازې سره مرکه

۱۰۲ د يوه نړيوال سازمان د پروګرام د مسئول سره مرکه

۱۰۳ په داسې حال کې چې نارينه غالباً په مرکز کې کنفرانسونو ته دعوت کېږي. مګر دغه مرکز د ښځو د مرکز نوم اخيستی او د يو ډول جلا والي ښودونکي دی او ښيي چې دغه مرکز زياتره د ښځو د ګټې اخيستنې لپاره دی.

بنسټ کار کوي چې د افغانستان د پارلمان د استازو سیاسي د اړیکو د واقعیت سره ډېر کم سمون لري.

د ښځو مرکز د دغو اندېښنو سره سره داسې یوه فضا رامنځ ته کړې چې په هغه کې د ښځو د کمېټو غونډې جوړېږي، او دا امر پخپل ذات کې د مناسبو نړیوالو مرستو د ترلاسه کولو بېلګه ده چې وروسته تر بحث لاندې نیول کیږي. دغه مرکز د نظروړ ګټه اخیستونکو ډلو د پراختیا په موخه، کېدای شي د قانون جوړوونکي ټولنې د ټولنیزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره د نظر د ځرګندولو یو مرکز چمتو کړي. پر هغه برسېره د نړیوالې ټولنې د یوه استازي په باور، دغه مرکز د نړیوالو سازمانونو داړتیاوو د پوره کولو او د دوی د پروګرامونو د همغږي کولو لپاره د هځو په برخه کې مرسته کوي:

> *د یونیفم مرکز د یو ځای کار کولو لپاره لاره هواره کړه، او دغه لاره په تر ټولو غوره مهال کې چمتو شوه.*[۱۰۴]

دا مرکز د نړیوالې ټولنې اړتیاوو ته د ځواب په موخه کېدای شي د ښوونې او روزنې د همغږۍ او د کیفیت د لوړوالي له لارو د پارلمان استازو ته ګټور وي.

د پارلمان سره د مرستې لپاره د نړیوالو سازمانونو لخوا نور میکانیزمونه هم کارول شوي چې په هغو کې د د ارلانشا مناسبه زده کړه (UNDP-SEAL)، د سیاسي ګوندونو د پراختیا او یووالي ځخه ټولیز ملاتړ (NDI) او د کابل پوهنتون د زده کړیالانو لپاره د پارلماني چارو د کار د چمتووالي نوبت په هغه کې شامل دي.[۱۰۵] هر ځو که د مرستو تر ټولو زیاتې ټاکل شوې لارې ورکشاپونه، سیمینارونه، او کنفرانسونه دي. د دغو فعالیتونو محدودیتونه په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې لخوا پېژندل شوي دي، د یوه نړیوال سازمان یوه استازي په دې اړه داسې وویل:

> *زه د جنسیت او حقوقي مسایلو په اړه (زده کړو) باندې باور نلرم. مونږ پوهېږو چې د خلکو زده کړه ځرنګه ده. یو شخص حتی د ماسترۍ په دوه کلنه یا د دوکتورا په پنځه کلنه دوره کې نشي کولای د یوې موضوع په اړه په ټولو شیانو پوه شي. یوازېنی کار چې زده کړه یې کولای شي هغه د لیوالتیا زیاتوالی او یا پخپله زده کړه ده.*[۱۰۶]

## اووم چوکاټ. د ښځو پارلماني کمیټې

*" دغه کمیټې ډېرې ګټورې دي، زه هم د یوې کمیټې غړې یم ... د دغو کمیټو له ګټو ځخه یوه داده چې د هغه د جوړېدو راپدېخوا ښځې استازې له یو بل سره د لیدو لپاره د یونیفم مرکز ته راځي او پرېکړه کوي " (د افغانستان د مرکزي سیمې د یوې استازې مرکه)*

*" کمیټې یو ښه نوښت او د ښځو د راغونډېدو لپاره ښه موقع ده. دوی کولای شي سره غونډې شي او د ښځو د یووالي، د ښځو د چارو د وزارت د ساتنې د ځرنګوالي، او دا چې د ښځو لپاره کوم کار ترسره کولای شي له یو بل سره خبرې وکړي. " (د کابل د یوې استازې مرکه)*

*" مونږ کولای شو د ښځو په کمیټو کار وکړو او د هغه په چوکاټ کې د ښځو د ځېړنیزو مهارتونو او زده کړې کچه لوړه کړو تر ځو هغوی وکولای شي د نارینه وو سره په اغېزمنه توګه اړیکه ټینګه کړي. دوی باید وپوهېږي چې ځرنګه د کمیسیونونو په رئیسانو فشار راوړي او ځرنګه په قوي منطق سره خبرې وکړي، په تېره بیا د اسلام په اړه تر ځو وکولای شي ملایان قانع کړي " (د کابل د یوې استازې مرکه)*

---

[۱۰۴] د یوه نړیوال سازمان د سیمه ایز مدیر سره مرکه

[۱۰۵] د ملي ډیموکراتیک انستیتیوت د پروګرام د مدیر سره شخصي اړیکه

[۱۰۶] د یوه نړیوال سازمان د پروګرام د مدیر سره مرکه

باید د ورکشاپونو او ټریننګونو په اړه ریالستیکې تمې ولرو. حتې که ومنو چې دغه غونډې د ښځو د (ځانته زده کړې) په پارولو کې مثبتې اغېزې درلودلې دي، هغه وخت ددې ډول ښځو شمېره یوه ګوښې موضوع ده.

## ۲.۸ اړتیاوې او میکانیزمونه: د ملي شورا د استازو لیدلوري

د ښځو استازو له نظرونو څخه یو بې دادي چې د روزنیزو غونډو شمېر باید کم شي ترڅو هغوی خپلې پارلماني چارې تر سره کړي. هرڅو که یوه مرکه کوونکي روزنیز ورکشاپونه د جنسیت له کبله د ښځود اوسنیو محدودیتونو د له مینځه وړلو ښه لاره وبلله:

*ورکشاپونه د ښځو لپاره ډېر ګټور دي ځکه نارینه د کتاب لوستلو او انټرنټ ته د مراجعې لپاره ډېر وخت لري مګر ښځې د دغو چارو لپاره پوره وخت نلري. لدې کبله ښوونه او روزنه ښځو ته ډېره ګټوره ده... نارینه همدارنګه کولای شي تر نیمې شپې پورې په خپلو ډلو کې بحث ته ادامه ورکړي مګر ښځې د داډول کار لپاره مناسب فرصت نلري."[۱۰۷]*

د وضعیت د ښه والي په موخه ښځو ته د زده کړې د ورکولو په پرتله ښایي د " ځانته ښوونې هڅول" ښه ټاکنه وي. دغه ټکی داسې لارې رابښيي چې د هغه له لارې په ډېرو ډګرونو کې سیاست پلي کېدای شي او په هیڅ صورت په پارلمان پورې محدود کېدای نه شي... د ښځو لخوا د وخت او فضا څخه ښې ګټې اخیستنې ته باید ډېره پاملرنه وشي.

یوه له دغو فضاګانو څخه ښځو د هغه هرکلي کړې د ښځو د کمیټې لپاره د یونیفم او د ملي ډیموکراټیکې موسسې مرکز دي.[۱۰۸] په خواشینۍ سره چې ډېر کم شمېر استازې د هغه د شتون څخه خبرې دي او د دغه مرکز د غړو د شخصیت په اړه اند ښېښمنې ښکارې. سره لدې دغه نوښت د ښځو د پارلماني نظر ځرګندول آسانه کړې دي چې په هغو کې د ښځو جنسیتي ګټې تر بحث لاندې نیول کېږي (اووم چوکاټ وګورئ)

د دغې ډلې جوړښت د ډېرو ښځینه استازو په اند د ظرفیت جوړونې په لور یو مثبت ګام دي. هرڅو که دغه مرکز د خپلو ځانګړو محدودیتونو سره مخ دي او په شدیده توګه د هغو شخصیتونو او د هویتي سیاستونو تر اغېزې لاندې دي چې یووالي ماتوونکې ګواښونه ورته کوي. سره لدې دغه کمیټه د کابو ۱۰ تنو غړو[۱۰۹] په درلودلو سره تر یوه ځایه د افغاني ډلې په نامه یادیدای شي. یوه استازې د دغه ډلې د جوړښت له کبله د را منځ ته شوي اړودوړ په اړه داسې وویل:

*"کمیټه زمونږ لپاره یو ښه نوښت دی ترڅو یو بل وپېژنو او د نظر راکړه ورکړه زده کړو. مونږ کابو ۳۰ ښځې وو او ما او یوې بلې ښځینه استازې د یونیفم سره کار پیل کړ. مونږ هره اوونۍ غونډه لرو او دښځو او د ډلې د پیاوړتیا د څرنګوالي په اړه بحث کوو."[۱۱۰]*

د نړیوالو مرستو د زیاتوالي په اړه د خپلو پروګرامونو زیاتېدونکې مالکیت د استازو سپارښتنه ده. په هغه صورت کې چې دغه مالکیت افغاني وي او افغاني پاتې شي نه فردي، کمیټې د ښځو د جنسیتي ګټو د استازیتوب لپاره د یوه ځواکمن میکانیزم په توګه د پایښت د ظرفیت څخه برخمنې کېدای شي.

د نړیوالو مرستو په اړه د استازو یوه ټینګه نیوکه داوه چې پیسې بېځایه لګېږي، دغه نیوکه په روزنیزو غونډو کې د ښځینه او نارینه استازو لخوا بیان شوه (اتم چوکاټ). د پارلمان استازو ته د نړیوالو سازمانونو او پروګرامونو د ځواب ورکونې

[۱۰۷] د افغانستان د غرب د یوې استازې مرکه

[۱۰۸] نړیوال حقونه هم د دغې ډلې په جوړېدو کې برخمن وو.

[۱۰۹] دغه شمېره په مناسبه توګه د مرکو سره توپیر لري، مګر په ظاهرا ۱۰ تر ټولو کمه شمېره ده چې د دغې ډلو د اصلي شمېر په اړه راکړل شوېده.

[۱۱۰] د افغانستان دلویدیځ د یوې استازې مرکه

### اتم چوکاټ. د بودجو ائتلاف (یو ځای والي)

*"زه فکر کوم چې غیر دولتي سازمانونه یوائې پیسې لګوي او مونږ ته کومه ګټه نه رسوي ځینې هېوادونه مونږ ته پیسې راکوي مګر دغه پیسې د غیر دولتي سازمانونو جیب ته لوېږي... یو روزنیز ورکشاپ د ۵۰ کسانو لپاره جوړېږي مګر یوائې ۱۰ کسه په هغه کې ګډون کوي دوی د سرینا په هوټل کې ډوډۍ خوري او دا د پیسو ائتلاف دی، په ځانګړي ډول کله چې پارلماني استازي نه راځي... زه د دوی د فضول خرڅې دا تګلاره هېڅ نه خوښوم" (د شمالي سیمو د یوې ښځینه استازې سره مرکه).*

*"دوی د یوې پروژې لپاره په روان کال کې ۱۲ میلیون ډالره لګولي دي، دا پیسې چېرته لګېدلې دي؟ مونږ د دې پیسو پایلې نه وینو؟" (د کابل د یوې ښځینه استازې سره مرکه).*

په اړه هم وړاندیزونه وشول، ټیټ لوري ته د ځواب ورکونې زیاتېدونکې ژمنتوب یا په بله بڼه د مرستو لاسته راوړونکو ته نه مرستندویانو ته، کولای شي د بودجو د بېځایه لګښت په اړه پوښتنو ته ځواب ووایي. په لوړه سیاسي کچه د بودجې اړوند معلومات څرګند شي، کولای شو د رپوټونو د منظمې وړاندې کونې، او د هغه لنډې ارزونې او د پارلمان د غړو لپاره د هغو د ژباړو له لارې چې د مرستو د پایلو لنډیز او د دوی راتلونکې پلانونه وښیي، له لارو د هڅو کچه لوړه کړو.

د نړیوالو مرستو د ښه والي په موخه د ښځینه استازو نور وړاندېزونه دا وو چې د روزنیزو ورکشاپونو کړنلاره دې دوی ته له وړاندې ورکړل شي[۱۱۱] ترڅو ځانونه پر بحث وړ موضوعاتو پوه کړي او په ګټوره توګه په بحثونو کې ګډون وکړي. ددې برسېره وړاندیز وشو چې ورکشاپونه ډېر عملي شکل ولري[۱۱۲] ترڅو په دغه پروګرامونو کې د افغانانو ونډه زیاته شي. یو وړاندیز چې د ښځینه او نارینه استازو لخوا بیا بیا وړاندې کېده د افغانانو د ونډې په زیاتوالي پورې اړوند ؤ، هغه داؤ چې د روزنیزو مطالبو محتوا د افغانستان د اوسنۍ وضعې سره ډېره سمه کړل شي. لاندې نظرونه په دغه وړاندیز ټینګار کوي:

*"نړیوال سازمانونه نه پوهېږي څه ډول دپارلمان ظرفیت جوړ کړي. ځینې وخت دوی د خپلې پرمختللې ډیموکراسۍ په تجربو تکیه کوي او دغه امر زمونږ د سیستم سره سم نه دی لدې کبله د دوی لارښوونې د یوه کتاب په شان دي نه واقعیت، او نشو کولای د هغه څخه ګټه واخلو."[۱۱۳]*

*"لوېدیځ باید دې هېواد ته رانشي او خپل رونې تحمیل کړي افغاني او اسلامي کلتور او همدارنګه د لویدیځ کلتور مثبت لوري لري چې مونږ کولای شو د هغو مثبتو ټکو د ترکیب څخه د ښځو لپاره نوي حقوق جوړ کړو. که مونږ وغواړو چې د لوېدیځ کلتور ارزښتونه د افغاني کلتور او ټولنې په نظر کې نیولو سره وړاندې کړو، نبایې مونږ له زیاتو ستونزو سره مخ شو."[۱۱۴]*

---

[۱۱۱] د افغانستان د لویدیځ او شمال د ښځینه استازیو مرکې

[۱۱۲] د شمالي سیمې د یوې استازې مرکه

[۱۱۳] د کابل د یوه تن استازې مرکه

[۱۱۴] د بامیانو د یوه تن استازې مرکه[۱۱۵] Kandiyoti, D. ۲۰۰۷ op.cit ,

د ښځو د جنسيتي ګټو ګټور استازيتوب په ښکاره توګه په دغه ټکي پورې اړوند دی. په افغانستان کې د جنسيتي مسائلو په اړه د زده کړو لپاره هڅې لکه څرنګه چې دنيز کانديوتي ليکي، زياتره نړيوال کړل وي او د هېواد د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو او همدارنګه د جګړې وروسته حالاتو څخه بېل دي.[۱۱۵]

لدې کبله غير رياليستيکې تمې رامينځ ته کوي.[۱۱۶] پدې ترتيب په پارلمان کې د ښځو د جنسيتي ګټو د استازيتوب په اړه نړيوالې ټولنې ته ښايي چې خپلې مرستې د افغانستان د اوسنۍ وضعې سره سمې او تنظيم کړي.

۱۱۵ کانديوتي ۲۰۰۷.

۱۱۶. په استثنائګانو کې د يونيفم د شريعت د روزنيزې دورې په شان نوښتونه شامل دي (۸,۱ برخه)[۱۱۷] ICG, op.cit ii.

## ۹. پایلې او پر وړاندې لارې

د دې مقالې بحث دادی چې پارلمان ته د ښځو د ټاکنې سره جوخت ښايي د دوی سیاسي اغېزه زیاته شوې وي، مګر د ښځو د جنسیتي ګټو استازیتوب په ښه توګه ندی شوی. د هغه اصلي دلیلونه عبارت دي له: لومړی، د پر مسئلې ولاړو ډلو نه شتون، په ټولیز ډول د پالیسۍ نه سمون، چې د دغو ګټو د طرح کولو لپاره د نظر د راکړې ورکړې لپاره د مناسب ځای د نه جوړښت لامل شوی. دوهم، د پارلمان د استازو او د انتخاباتي سیمو تر مینځ کمزوري اړیکې، او د هغو وسایلو (د ملاتړ په شان) کمښت چې د هغه په وسیله شته اړیکې وساتل شي، دغه ټکي په پارلمان کې د ښځو د جنسیتي ګټو د ټولیز استازیتوب د نه ترسره کېدو لامل دي. سیاسي اړتیاوې (د خدماتو د وړاندې کولو په بڼه) په ډېر لومړني لومړیتوب کې درول شوې او ملاتړیزې شبکې او د پوړونو ګوښې والي لا غښتلي کوي. برسېره پر هغو د جنسیتي حقونو د کړنلارې د ښه توب په موخه د استازو سره د نړیوالې مدني ټولنې د ملاتړ نشتوالي ددې لامل شوي چې په پارلمان کې د دغو ګټو پراخ استازیتوب ونه شي. دریم، په کابینه کې د ښځو ډېر کم استازیتوب او د ښځو په وزارت پورې د هغوی محدودیت ددغه ټکي د ټاکلو اصلي لامل دي چې ولې په پارلمان کې استازي د ښځو د جنسیتي ګټو د طرح کولو لپاره انګېزه نه لري. په دولتي ارګانونو کې د فساد شخه اخیستنې (برداشتونه) د دغه مسائلو د مطرح کولو په اړه د لیوالتیا د کمښت لامل دي. په پای کې ددې ترڅنګ چې نړیوالې مرستې ښځینه او نارینه استازې په زیاتره ځایونو کې د جنسیتي انډول د کړنلارې ښه توب ته هڅوي، زیاتره دغه مسئلې د نړیوالو سازمانونو د فرضیاتو پر بنسټ طرح او پلې کېږي او غیر ریالستیکه تمې رامینځ ته کوي. د سیاست جوړوونکي سپارښتنې چې وروسته بیانېږي، د ښځو د جنسیتي ګټو د پارلماني استازیتوب د هڅولو لپاره لارې وړاندې کوي:

۱. ځانګړې شوې څوکۍ: که داسې فرض شي چې په راتلونکو ټاکنو کې د ښځو لپاره څوکۍ ځانګړې کیږي، نو سپارښتنه کېږي چې دولت او د ټاکنو چارواکي د دغو څوکیو د کړنلارې په اړوند خلکو ته مخکې له مخکې معلومات ورکړي. په هغه برسېره د ځانګړو شوو څوکیو سیستم باید د تېرو نابرابریو دلنډ مهالي ارزونې په بنسټ وي نه داسې یو سیستم چې د هغه له لارې ښځو ته ناعادلانه مکافات ورکول کیږي.

۲. پر مسئلې ولاړې ډلې: که داسې وي چې د جنسیتي چارو کړنلاره په پراخه کچه ومنل شي، ډله ایز استازیتوب باید وهڅول شي. د ښځو د جنسیتي ګټو شخه استازیتوب پر مسئلو ولاړو ډلو یا د هغو ګوندونو چې ددغو ګټو شخه د استازیتوب ژمنه یې د سیاست یوه بنسټیزه برخه وي، چوکاټ ته اړتیا لري. د افغانستان په سیاسي تاریخ کې پر مسئلو ولاړو ډلو تر اوسه بریالیتوب نشتون ته په پام دغه مسئله د جدي پاملرنې وړ ده. وړاندیز کېږي چې:

- د پارلماني ډلو د جوړولو په اړوند شته قیدونه له مینځه یوړل شي ترڅو دغه ډلې د رښتینو ډله ایزو ګټو پر بنسټ جوړې شي نه د غړو د رنګارنګۍ د غوښتنو د پوره کولو په موخه[۱۱۷]
- نړیوال سازمانونه د ظرفیت جوړونې په چاره کې په مرام یا کړنلاره تمرکز وکړي او لدې لارې د پارلماني ډلو پراختیا او پیاوړتیا د نظرونو د سیاست پر بنسټ وهڅوي.

۳. ځواب ورکونه "تېټ لوري ته": د پروګرامونو لاسته راوړونکو ته د نړیوالو سازمانونو لخواځواب ورکونې ته زیاتېدونکې ژمنه د زده کړو اړوند اسناد باید د شورا د استازو د مطالعې په موخه په منظم ډول چمتو کړل شي او دوی د زده کړې او د مرستې د نورو بڼو لپاره د سازمانونو د پلانونو له سپړنو شخه خبر کړي. که څه هم چې په هېڅ صورت نشي تضمین کېدلای چې دغه سندونه مطالعه کېږي مګر په هر حال د مرستو په اړه د معلوماتو د جریان د بندیز شخه مخنیوی کوي. وړاندیز کیږي چې د استازو په وسیله د اشاعې (حق پیژندنې) په اړوند د پارلمان سره د مرستې په برخه کې د روښوالې (شفافیت) د

اړتیا په اړوند د خبرتیا د لوړوالي په موخه کار وکړل شي.

**۴.** د جنسیت اړوندو مسایلو د زده کړې پراختیا: د زده کړې محدودیتونه باید په پراخه کچه وپېژندل شي او د روزنیزو پروګرامونه د ګټورو مهارتونو د زده کړې په موخه د بېلګې په توګه د قانون جوړونې په برخه کې په لاره واچول شي. له هغه ځایه چې ښځینه او نارینه استازي دواړه د جنسیت په اړه زده کړو ته اړتیا لري لدې کبله جنسیت باید په مناسبه توګه په ټولو روزنیزو پروګرامونو کې په نظر کې ونیول شي او د پارلمان ټولې چارې باید د جنسیتي انډول له لیدلوري څخه وي. برسېره پر دې د ډېرو افغانانو د برخې اخیستنې په موخه باید د زده کړې پر تناسب ډېر تمرکز وکړل شي.

**۵.** د ښځو د حقونو په اړه د قانون جوړولو همغږي: دې ته په پام چې د ښځو د حقونو د لوړتیا په موخه د قانون جوړونې د ډول ډول شکلونو او د ژمنو د الزاماتو په هکله کم درک شته، وړاندیز کیږي د مخکې یادشوو مواردو ټولګه چمتو او د پارلمان په واک کې ورکړل شي. د افغانستان د ښځو لپاره د کارملې طرحه (NAPWA) کولای شي ددې موضوع په هکله کار وکړي او د ښځو د جنسیتي ګټو د لوړوالي لپاره د یوې وسیلې په توګه کار وکړي.

**۶.** ښځې په اجرائیه ځواک/ستره محکمه کې: د ښځو په اړوند د حامد کرزي ژمنه د اړتیا وړ ګوهر څخه خالي وه، مګر پر دغه ټکي پوهېدل اړین دي چې حامد کرزي په پارلمان کې ښځو استازو ته درناوي کوي او ژمنه یې کړېده چې په اجرائیه ځواک او ستره محکمه کې لازیاتې ښځې وګماري. د دغه ټکي تضمین هم اړین دي چې د ښځو ګډون د ښځو په ټاکلې فضا "لکه د ښځو د چارو وزارت پورې تړلې (محدود) نه دي، ځکه چې داسې ګواښ شته چې د ښځو ګډون یوازې د جنسیتي انډ ښېنو د لیرې کولو لپاره کارکوي او په نورو اجرائي برخو کې د کار وړتیا نلري.

---

.۱۱۷ ICG, op. cit ii

# اخځونه:

AREU. ۲۰۰۶. *The A to Z Guide to Afghanistan Assistance*. Fifth Edition, Kabul.

Basu, A. 2005. *Women, Political Parties and Social Movements in South Asia*. Occasional Paper 5, UNRISD: Geneva.13-15. Accessed online at www.unrisd.org, accessed 17 March ۲۰۰۷.

Dahlerup, D. 2002. "Using Quotas to Increase Women's Political Representation." International IDEA, Women in Parliament, Stockholm (an updated version of the chapter which was originally published in International IDEA's Handbook: *Women in Parliament Beyond Numbers*, Stockholm, International IDEA, 1998), www.onlinewomeninpolitics.org, accessed 11 March ۲۰۰۷.

Dollar, D., Fisman, R., and Gatti, R. 1999. *Are Women Really the "Fairer" Sex? Corruption and Women in Government*, Policy Research Report on Gender and Development, Working Paper Series, No. 4. The World Bank Development Research Group/Poverty Reduction and Economic Management Network, www.anticorruption-online.org, accessed 4 August ۲۰۰۶.

Educational Broadcasting Corporation. ۲۰۰۶. "Wide Angle: Flying down to Kabul. Handbook: Women in Afghanistan: Politics." PBS, www.pbs.org, accessed 7 March ۲۰۰۷.

Goetz, A-M. 2003. *Political Cleaners: How Women are the New Anti-Corruption Force: Does the Evidence Wash?* www.u4.no/document/literature/goetz-2003-gender-corruption.pdf. (no page numbers in original).

Goetz, A.M. 2002. "No shortcuts to power: constraints on women's political effectiveness in Uganda." *Journal of Modern African Studies.* Vol. 40, No. 4, 549-575.

Government of Afghanistan. *The Constitution of Afghanistan* (Unofficial Translation) in AREU, ۲۰۰۶. *The A to Z Guide to Afghanistan Assistance*. Fifth Edition, Kabul, 95.

ICG. ۲۰۰۶. "Afghanistan's New Legislature: Making Democracy Work" (Asia Report No. 116). www.crisisgroup.org, accessed 11 December ۲۰۰۶. Kabul/Brussels.

IPU. ۲۰۰۷a. "Women in National Parliaments." www.ipu.org/wmn-e/world.htm (webpage) accessed 26 February ۲۰۰۷.

IPU. ۲۰۰۷b. *Women in Parliament in ۲۰۰۶: The year in perspective.* IPU: Geneva, www.ipu.org, accessed 5 February ۲۰۰۷.

JEMB. 2005. "Final Report: National Assembly and Provincial Council Elections 2005." www.jemb.org, accessed 17 June ۲۰۰۶.

Kandiyoti, D. ۲۰۰۷. "Political fiction meets gender myth: post-conflict reconstruction, 'democratization' and women's rights." In Cornwall, A., Harrison, E., and Whitehead, A. (eds.). *Feminisms in Development: Contradictions. Contestations and Challenges. Zed Books: London and New York*. 194.

Kandiyoti, D. 2005. *The Politics of Gender and Reconstruction in Afghanistan*. UNRISD Special Events Paper 4, UNRISD: Geneva, www.unrisd.org, accessed 27 December 2005.

Ministry of Finance. 1385. *1385 National Budget*, Budget Department, Ministry of Finance.

Mukhopadhyay, M. and Meer, S. 2004. *Creating voice and carving space: redefining governance from a gender perspective*. KIT publishers: Amsterdam.

NDI. ۲۰۰۶. "The September 2005 Parliamentary and Provincial Council Elections in Afghanistan." www.accessdemocracy.org, accessed 11 June ۲۰۰۶.

Norris, P. ۲۰۰۶. *Opening the Door: Women leaders and constitution building in Iraq and Afghanistan.* Harvard University, John F. Kennedy School of Government: Cambridge MA.

Phillips, A. 1995. *The Politics of Presence: The Political Representation of Gender, Ethnicity and Race*. Oxford: Clarendon Press.

Randall, V., and Sråsand, L. 1999. *Party Institutionalization and the New Democracies*, paper for the ECPR Joint Session of Workshops, Mannheim, March 1999, www.essex.ac.uk, accessed 6 August, ۲۰۰۶.

Rashid, A. ۲۰۰۶. "Afghanistan on the Brink." *New York Review of Books*. Vol. LIII, No. 11: 24.

Reynolds, A., Jones, L. and Wilder, A. 2005. *A Guide to Parliamentary Elections in Afghanistan*. AREU: Kabul.

Rubin, B. 2005. 'Afghanistan: The Wrong Voting System'. *International Herald Tribune*, 16 March 2005, www.iht.com, accessed 10 July ۲۰۰۶.

Smith, D. 2005. *Finding Power: Gender and Women's Political Participation in Rural Rajasthan, India*. (PhD Thesis). London School of Economics and Political Science: London.

Tinker, I. 2004. "Quotas for women in elected legislatures: Do they really empower women?" In *Women's Studies International Forum*, 27:531-546.

UNAMA. 2005. "Gender Issues", Issue 1, March 2005. UNAMA: Kabul, www.unama-afg.org, accessed February 10, ۲۰۰۷.

Walter, N. ۲۰۰۶. "We are just watching things get worse". *The Guardian*. 28 November ۲۰۰۶, www.guardian.co.uk, accessed 12 December ۲۰۰۶.

Weinbaum, M. G. 1972. "Afghanistan: Nonparty Parliamentary Democracy." In *The Journal of Developing Areas*. Vol. 7, No. 1.: 57-74.

Wilder, A. 2005. *A House Divided? Analysing the 2005 Afghan Elections*. AREU: Kabul.

Wordsworth, A. ۲۰۰۶. "The politics of patronage: an exploration of women's acquisition of power in Afghanistan. Case study: legislative elections in Balkh province, 2005." Unpublished Masters thesis.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري وروستۍ خپرونې

د ۲۰۰۷ کال د جون میاشت: راستنېدل او که پاتې کېدل: په پاکستان کې د افغانانو د دوهم نسل لالهاندتیا ، مامیکو سایتو او پاملا هانت

د ۲۰۰۷ کال د مي میاشت: د اوبو مدیریت ، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد: د اوبو د ټولنیز مدیریت بریالیتوب، جاناتن ال لي

د ۲۰۰۷ کال د اپریل میاشت: د افغانستان څېړنیزه خبرپاڼه، ۱۳ ګڼه

د ۲۰۰۷ کال د اپریل میاشت: له ۲۰۰۱ کال څخه ره په دی خوا د افغانستان روغتیایي سیستم ، دشرایطو ښه والي، خوشبینانه وړاندوینه، رون والدمن، لزلي سترانګ، عبدالولي

د ۲۰۰۷ کال د اپریل میاشت: د دولت سره مرسته، نړیوالې مرستې او په افغانستان کې د دولت جوړونې پارادوکس، هیمش نیکسون

د ۲۰۰۷ کال د فبروري میاشت: د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد ، د ځمکو د ثبت لپاره خوښنې (انتخاب) ، الک مک اون او شرنا نولان

د ۲۰۰۷ کال د فبروري میاشت: د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د باور وړ غیررسمي فعالیتونه: د غورپه ولایت کې دریمه موردي مطالعه، فلورتجي کلیجن

د ۲۰۰۷ کال د جنوري میاشت: د افغانستان څېړنیزه خبرپاڼه، ۱۱ او ۱۲مه ګڼې

د ۲۰۰۶ کال د دسمبر میاشت: د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد ، په ننګرهار او غور کې د کوکنارو او خاشخاشو کرنه، د ډیویډ منسفیلډ لیکنه

د ۲۰۰۶ کال د دسمبر میاشت: د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د باور وړ غیررسمي فعالیتونه: د کاپیسا په ولایت کې دویمه موردي مطالعه ، فلورتجي کلیجن

د ۲۰۰۶ کال د نومبر میاشت: د افغانستان سره د مرستو لپاره د الف څخه تر یا پوري لارښوونې، پنځم چاپ

د ۲۰۰۶ کال د نومبر میاشت: آس په ګاډۍ پسې تړل؟ خصوصي کول او په افغانستان کې اقتصادي سمون، انا پترسون

د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر میاشت: د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد: د مالدارۍ او روغتیا تولیدات، ایان تامسن

د ۲۰۰۶ کال د سپتمبر میاشت: مخ ته تګ؟ په افغانستان کې د اداري سمون ارزونه، سارا لیستر

د۲۰۰۶ کال د اګست میاشت: په افغانستان کې کلیوالي معیشتونه، جو بیل او استیفن شوت

د۲۰۰۶ کال د اګست میاشت: افغاني بدلونیزې شبکې، د راستنېدو پروسې ته کتنه، الکساندر او مونسوتي

د۲۰۰۶ کال د اګست میاشت: د اوبو مدیریت، د مالدارۍ او تریاکو اقتصاد: تشریحي کتاب پېژندنه


## د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ګلفروشۍ کوڅه، (د دوهم سړک څنډه) ن

وي ښار، کابل، افغانستان

تلفون: ۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸+، بریښنا پته: areu@areu.org.af، بریښنا پاڼه: www.areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل فروشۍ کوڅه (د دوهمې کوڅې څنډه)
نوی ښار کابل، افغانستان
ټلفون: +۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸
برېښنا پته: areu@areu.org.af
برېښنا پاڼه: www.areu.org.af